١٢

# قضاء

شرعي / قضائي / حقوقي

د افغانستان اسلامي امارت
د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته (۱۲ مه برخه)

د سترې محکمې عالي مقام د دفتر له عمومي رئیس سره ځانګړې خیرونه

د قضاء، تحکیم او صلح تعریفونه او ترمنځ یې ځینې توپیرونه

ځلورم کال، دوولسمه ګڼه (رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک) ١٤٤٧ هـ ق/١٤٠٤ هـ ش

د تأسیس کال ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

د افغانستان اسلامي امارت د سترې
محکمې درې میاشتنۍ مجله

څلورم کال
دوولسمه ګڼه (رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک) ١٤٤٧ هـ ق/ ١٤٠٤ هـ ش

د تأسیس کال ١٣٠٩ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه    خپروونکی:د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

## کتنپلاوی

شیخ محمد قاسم «راسخ»
مفتي عبدالرشید «سعید»
مفتي عبدالرحمن«عزیزي»
مولوي حمدالله«محمدي»
حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

**مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»**

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان
د اړیکې شمېرې: ٢٣٠٠٣٦١_٢٣٠٢٢٦٣
برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com
ویب سایټ:www.supreme court.gov.af

# لړلیک


سرمقاله
اداره
۱

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته(۱۲ مه برخه)
مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني
۲

د قضاء، تحکیم او صلح تعریفونه او ترمنځ یې ځینې توپیرونه
مولوي عبدالکریم «الکریمي»
۶

د سترې محکمې عالي مقام د دفتر له عمومي رئیس سره ځانګړې خبرونه
اداره
۱۵

ګزارش اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه
اداره
۱۹

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## شرعي محاکم؛ د افغان ولس ستره هيله!

الحمد لله رب العالمين و الصلوة والسلام علی سيد المرسلين محمد و علی آله و اصحابه اجمعين، اما بعد:

د اسلام او افغانستان دښمنانانو په تېرو څه باندې ۴۰ کلونو کې پر افغانستان د مسلسلو بريدونو او زموږ د مقدسې خاورې د اشغال د ناکامې هيلې پر مهال د نورو ټولو برخو په شمول افغانستان کې د عدالت د تأمين د له منځه وړلو هڅه وکړه، دوی هيله درلوده چې افغانستان کې شرعي نظام له منځه يوسي او په کې د دوی په لاس جوړ شوي وضعي او ناقص قوانين مروج کړي؛ خو الحمدلله زموږ غيور ملت چې په اسلامي خاوره کې پيدا، د اسلامي نظام تر چتر لاندې را لوی او د اسلامي نظام، په ځانګړې توګه شرعي محاکمو په ګټو اګاه وو، د وخت د اشغالګرو پر وړاندې د سر او مال په بيه داسې په مېړانه مبارزه او جهاد وکړ، چې نه يوازې د افغانستان؛ بلکې د ټولې اسلامي نړۍ تاريخ به پرې وياړي.

شاوخوا ۲۵کاله مخکې چې امريکا او متحدينو يې پر افغانستان ظالمانه بريد وکړ او په داخل کې د خپلو محدود شمېر غلامانو پر مټ يې دلته يوه اداره جوړه کړه، هڅه يې وکړه چې د ميلياردونو ډالرو په لګښت او لکونو اشغالګر پوځ په وسيله پر افغانانو تپل شوي بشري وضعي قوانين ومني؛ خو دغه قوانين له يوې خوا خپله نيمګړي او ناقص و، بلخوا يې جوړوونکي او تطبيق کوونکي په فساد کې ښکېل وو. د دوی په لاس جوړ شوي محاکم دومره په فساد ککړ و، چې خلکو يې له نوم کرکه کوله او پر همغه مهال هېوادوالو د خپلو شخړو د حل په موخه د سيمو علماء کرامو او د اسلامي امارت محاکمو ته مراجعه کوله.

د افغانستان اسلامي امارت عاليقدر مشرتابه د خلکو دغه اړتيا ته په کتو د جهاد او مبارزې ترڅنګ خپل محاکم هم فعال ساتلي و او د مراجعينو موضوعات يې د اسلامي شريعت په رڼا کې ورته حل او فصل کول، تر دې چې الله تعالی په خپل ځانګړې نصرت، د اسلامي امارت د سرښندونکو مجاهدينو د قربانيو او افغان ملت د دعاګانو او همکاريو په نتيجه کې يو ځل بيا د وخت متکبر او متجاوز اشغالګر ځواک (امريکا او ورسره ټول متحدين يې) افغانستان کې له تاريخي او شرموونکې ماتې سره مخ کړل او زموږ په پاکه خاوره کې يو ځل بيا د اسلامي امارت رسمي شرعي نظام حاکم شو.

اسلامي امارت چې له مخکې يې د محاکمو منظم تشکيل درلود، له فتحې سره جوخت په ټول ملک کې د سترې محکمې عالي مقام تر چتر لاندې محاکم فعال او خلکو ته يې په خدمت پيل وکړ، د خپل ژمن او مسلکي قضائي سيستم او غړو پر مټ يې نه يوازې د نويو مراجعينو مشکلاتو ته د شرعي احکامو په رڼا کې رسېدنه وکړه؛ بلکې د تېرې ادارې پر مهال د لکونو هغه دوسيو د حل او فصل لپاره يې ځانګړې محاکم جوړ کړل چې د شرعي احکامو خلاف فيصله شوې او ناطبيق پاتې وې.

دغه راز د اسلامي امارت محاکمو پر قاتلينو د قصاص، پر مجرمينو د الهي حدودو او تعزيراتو د حکمونو د تطبيق په وسيله وکولای شول، په ملک کې د جرايمو ګراف د پام وړ راټيټ کړي؛ ځکه اوس الحمدلله هېڅوک د جرم ترسره کولو جرئت نشي کولای او پوهېږي چې که جرم وکړي له شک پرته به هغه جزا ويني، چې شريعت ورته ټاکلې ده.

د اسلامي امارت سترې محکمې عالي مقام د محاکمو په اړه د عامه پوهاوي، د محاکمو او ولس ترمنځ د واټن له منځه وړلو، د قضائي، شرعي او حقوقي نشراتو او د محاکمو له فعاليتونو پر وخت د ولس د خبرولو په موخه په خپل تشکيل کې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست جوړ کړی، چې دغه رياست د عالي مقام د هدايت سره سم هڅه کړې په پوره برخه کې خپل شرعي رسالت په ښه ډول ترسره کړي، د خپلو نورو فعاليتونو ترڅنګ يې د قضاء مجلې ۱۲مه ګڼه چې تاسو محترم يې اوس لولئ، په ټاکلي وخت ترتيب، چاپ او نشر کړې ده؛ ترڅو تاسو قدرمن په کې د بېلا بېلو علمي ليکنو ترڅنګ د محاکمو د قضائي او اداري مهمو اجراآتو ربعوار راپور ولولئ.

د قضاء مجلې په دې ګڼه کې د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته (۱۲مه برخه)، د قضاء تحکيم او صلح تعريفونه او ترمنځ يې ځينې توپيرونه تر عنوان لاندې مقالې، د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه او د روان ۱۴۴۷هـ ق کال د دويمې ربعې په جريان کې د سترې محکمې د مهمو کړنو لنډ راپور ځای پر ځای شوی دی.

هيله ده چې د قضاء مجلې دغه ګڼه تر مطالعې وروسته په يوه خوندي او مناسب ځای کې وساتئ؛ ځکه چې مجله کې د قرآنکريم مبارک آياتونه او نبوي ارشادات موجود دي.

**په درنښت**

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

## د راشده خلافـت په دوره کې قضاء

لیکوال: قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم «حقاني»[1] ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني [2]

**دوولسمه برخه**

**د شرعي حکم څخه د علي ﷺ ملاتړ کول:**

علي ﷺ به د شرعي حکم پوره ملاتړ کاوه، د علي ﷺ او یهودي تر منځ د شریح د قضاء کیسه مشهوره ده، ابو نعیم په «حلیة» کتاب کې د یزید التمیمي څخه روایت نقلوي، چې وایي: علي ﷺ خپله ورکه شوې زغره له یوه یهودي سره ولیده؛ نو له پېژندلو سره یې ورته وویل: «زما پاڼې لرونکې زغره د اوښ څخه لوېدلې وه». یهودي ورته وویل: دا زما زغره ده او زما په لاس (ملکیت) کې ده او یهودي پسې زیاته کړه، چې زما او ستاسو تر منځ د مسلمانانو قاضي شته؛ نو دواړه شریح ته راغلل، کله یې چې علي ﷺ ولید، له خپل ځای څخه وښوربد اوعلي ﷺ هلته کېناسته؛ نو علي ﷺ وویل: که چېرې زما خصم له مسلمانانو څخه وای، ما به په ناسته کې مساوات کړی وای؛ خو ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي، چې فرمایي: «له دوی (کفارو) سره په ناسته کې مساوات مه مراعاتوئ، بلکې دوی د لارې کونج ته تېل وهئ، که چېرې یې تاسو ته ښکنځل وکړل؛ نو ویې وهئ او که چېرې یې تاسو ووهلئ، ویې وژنئ». بیا وروسته شریح وویل: اې امیر المؤمنینه! څه اراده لرئ؟ هغه ورته وویل: «زما پاڼې لرونکې زغره له اوښ څخه لوېدلې او دغه یهودي پیدا کړې ده»؛ نو شریح وویل: اې یهودي! ته څه وایې؟ هغه وویل: دا زما زغره ده او زما په لاس (ملکیت) کې ده. شریح وویل: اې امیر المؤمنینه! په الله قسم ته رښتیا وایې، چې دا ستا زغره ده؛ خو دوه شاهدان باید موجود وي؛ نو د علي ﷺ غلام (قنبر) او زوی یې حسن راوغوښتل شول او هغوی دواړو شاهدي ادا کړه، چې دا زغره د علي ﷺ ده؛ خو شریح وویل: کوم چې ستا د غلام شاهدي ده، هغه موږ ته قبوله ده؛ خو ستا د زوی شاهدي ستا لپاره صحیح نه ده. علي ﷺ وویل: مور دې درباندې بوره شي، تا له عمر بن خطاب ﷺ څخه نه دي اورېدلي! دی وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «حسن او حسین دواړه د جنتیانو د ځوانانو مشران دي». شریح وویل: بلکل دغسې ده، علي ﷺ وویل: نو آیا د جنتیانو د ځوانانو د مشر شاهدي نه قبلېږي؟ په الله قسم چې زه به تا «بنقیه» ته ولېږم چې د څلوېښتو ورځو لپاره د هغه خلکو تر منځ قضاوت وکړې، بیا یې یهودي ته وویل: زغره واخله. یهودي وویل: امیرالمؤمنین له ما سره د مسلمانانو قاضي ته راغی، هغه پر ده فیصله وکړه او ده هم خوښه کړه، اې امیرالمؤمنینه! په الله قسم چې ستا خبره رښتیا ده، دا ستا زغره ده، ستا له اوښ څخه لوېدلې وه او ما راواخیسته؛ نو زه شاهدي ادا کوم، چې بې له الله تعالی څخه بل معبود برحق نشته او محمد ﷺ

---

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

د الله تعالی پيغمبر دی؛ نو علي ﷺ زغره ورته ډالۍ کړه، نهه سوه (پيسې) انعام يې ورکړ او د صفين جنګ په ورځ له علي ﷺ سره ووژل شو.

**د قضاء په چارو کې له مداخلې کولو څخه د علي ﷺ لرې والی:**

يو وخت جعده بن هبيره علي بن ابي طالب ﷺ ته راغی او ورته ويې ويل: اې اميرالمؤمنينه! تاسو ته دوه کسان راځي، دوی کې يوه ته تر خپل ځان هم ډېر ګران يې او دويم کس که ستا په حلالولو يې وس ورسېږي، حلال به دې کړي؛ نو پر هغه باندې د ده فيصله وکړه، راوي وايي، چې علي ﷺ ماته اشاره وکړه او ويې ويل: که دا (کار) زما لپاره وای، ما به کړی وای؛ خو دا د الله تعالی لپاره دی.[1]

**د مظالمو او حسبه‌وو قضاء:**

دا وړاندې تېر شول، چې په راشدي دوره کې د مظالمو قضاء مستقله نه وه، ابو يعلی وايي: له څلورو خليفه‌ګانو څخه هېڅ د مظالمو (قضاء) لپاره څوک نه وو ټاکلي؛ ځکه دوی په لومړيو وختونو کې وو او د دين ظهور دوی ته ډېر ښکاره و، دوی به يې انصاف او حق ته رهبري کول؛ بلکې د دوی تر منځ چې د ځينو مشکوکو مسئلو پر سر شخړې روانې وې، چې هغه به د قاضيانو په پرېکړو سره روښانه شوې، که چېرې د سخت زړو او جفا کاره اعرابو سره نرمي کېږي؛ نو نصيحت کوونکي بايد حکمت او تدبير په نظر کې ونيسي او که څوک د سختۍ لاره غوره کوي؛ نو هغه هم بايد د اصولو په چوکاټ کې وي؛ خو د پخوانيو خليفه‌ګانو طريقه دا وه، چې د خلکو تر منځ يې شخړې او لانجې يواځې د قضاء او حکم له لارې حل کولې او کله چې د علي ﷺ خلافت وځنډېد، خلک په هغه کې سره ګډوډ او مغشوش شول او ځينو د خپلې تېزې هوښيارۍ او قاطع فکر له امله په زوره د برلاسۍ هڅه وکړه؛ نو د زورواکو د ظلمونو د مخنيوي لپاره د مظالمو څارونکو مقام ته مخه کړې، داسې څوک چې د واک ځواک ورسره وي.

لومړی کس چې د مظلومانو د عريضو د اورېدو لپاره يې ځانګړې ورځ وټاکله او په خپله به يې له دې چې مستقيما پرېکړه وکړي، د خلکو عريضې کتلې، هغه عبدالملک بن مروان و. کله به چې هغه ته په عريضو کې کومه ستونزمنه مسئله ورپېښه شوه، يا به د عملي حکم اړتيا وه؛ نو هغه به يې خپل قاضي ابو ادريس الاودي ته سپارله او هغه به پرې خپل شرعي حکم نافذاوه، په دې توګه ابو ادريس فيصله کوونکی او عبدالملک امر کوونکی و.

بيا د ځينو چارواکو ظلمونه او د سرکښانو تېری دومره زيات شو، چې يواځې پياوړو لاسونو (قوي واک او سخت اقدام) کولای شول، چې مهار يې کړي؛ نو عمر بن عبدالعزيز لومړنی کس و، چې د مظلومانو د حق اخيستلو لپاره خپله ودرېد او د بني اميه له دور څخه پاتې مظالم يې خپلو حقدارانو ته بېرته وسپارل. وروسته د بني عباس خليفه‌ګان هم په ډله‌ييزه توګه د مظالمو د اورېدلو لپاره کښېناستل، له هغوی څخه لومړی کس چې د دې کار لپاره کښېناست، مهدي و، بيا هادي، بيا رشيد، بيا مأمون او وروستی يې مهتدي و، تر دې چې شتمنې بېرته خپلو مستحقانو ته ورسېدلې.

د فارس پاچاهانو به هم دا کار د سلطنت د بنسټيزو اصولو او د عدالت له قوانينو څخه ګاڼه او هر هغه څوک، چې د مظالمو د اورېدو لپاره ټاکل کېدل، هغه به د دې کار لپاره يوه ځانګړې او معلومه ورځ ټاکله، څو مظلومان په هماغه ورځ ورشي او نورې ورځې به يې د سياست او تدبير هغه چارو ته ځانګړې وې، چې ده ته سپارل شوې وې؛ خو که به څوک د يوې سيمې مستقل والي و؛ نو هغه په ټولو ورځو کې د مظالمو اورېدو باندې مکلف و او په کار دا وه ورته، چې دروازه يې د خلکو پرمخ خلاصه او مجلس به يې له ناوړه ملګرو څخه پاک و.

---

١ - فقه علي بن ابي طالب، ص:٥٠٨.

**او د مظالمو اورېدو مجلس(محکمه) دې په پنځه ډولو کسانو په شتون سره بشپړ کړي، داسې کسان چې له هغوی پرته دده چاره نه وي او پرېکړې هم له هغوی پرته سمې نه منظمېږي:**

۱- ساتونکي او مرستندويان، څو زورور مهار کړي او زړور سمې لارې ته راولي؛

۲- قاضيان او حاکمان، څو وپوهېږي او دا څرگند کړي، چې د خلکو کوم حقونه ثابت گرځي؛

۳- فقهاء، څو هغه مسئلې چې ستونزمنې وي، هغوی ته راجع کړي او په کومو کارونو کې چې شک وي، له هغوی يې وپوښتي؛

۴- ليکونکي(کاتبان)، څو هغه څه وليکي، چې د دعوې د لوريو تر منځ تېر شوي وي او همدارنگه هغه حقونه چې د هغوی په گټه يا پر هغوی لازم گرځي، په رسمي ډول درج کړي؛

۵- شاهدان، څو د هغو حقونو په اړه شهادت ورکړي، چې د خلکو په منځ کې يې رعايت او پلي کېدل لازم دي.[1]

**د علي رضي الله عنه څېرکتيا:**

د ده له څېرکتيا څخه دا دي، چې د قريشو څخه دوو کسانو يوې ښځې ته سل ديناره د امانت په توگه ورکړل او دواړو ورته وويل، چې زموږ څخه د يوه په نه شتون کې به يې دې بل ملگري ته نه ورکوې، په دې کې يو کال تېر شو؛ نو له دغه دوو کسانو څخه يو راغی او دې ته يې وويل، چې زما ملگری خو مړ شوی، ماته هغه دينارونه راکړه، هغې منعه وکړه او ويې ويل: تاسو دواړو ماته ويلي وو، چې له موږ څخه د يوه په نه شتون کې به دې بل ملگري ته دينار نه ورکوې، په همدې اساس زه (دينارونه) نه درکوم؛ خو هغه کس د کورنۍ او گاونډيانو په واسطه په هغې تر هغه زور راويست، چې دينار يې ده ته ورکړل؛ په همدې کې بل کال تېر شو، چې بيا هغه بل کس راغی او ويې ويل، چې ماته هغه دينار راکړه، ښځې ورته وويل: ستا ملگری ماته راغلی او ادعا يې وکړه، چې ته مړ شوی يې؛ نو ما هغه ته ورکړل. دوی دواړو خپله دعوه عمر رضي الله عنه ته يوړه، د هغه اراده وه چې پر ښځې فيصله وباسي؛ نو هغې وويل: موږ علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته ولېږئ؛ نو علي رضي الله عنه پوه شو، چې دې دوو کسانو له ښځې سره دوکه کړې ده؛ نو ويې ويل: آيا تاسو دا نه وو ويلي، چې له موږ څخه د يوه په نه شتون کې به دې بل ملگري ته دينار نه ورکوې؟ هغه سړي وويل: هو، ويلي مو وو. علي رضي الله عنه وويل: ستاسو مال له دې سره دی؛ نو ولاړ شه خپل ملگری راوله، تر څو تاسو دواړو ته يې وسپاري.[2]

د هغه له څېرکتيا څخه دا هم دي، چې د زر بن حبيش څخه روايت شوی، چې وايي: يو وخت دوه کسان ناست وو او ډوډۍ يې خوړله، له يوه سره پينځه ډوډۍ وې او له هغه بل سره درې ډوډۍ وې، کله چې يې ډوډۍ مخې ته کېښوده، يو سړی پر دوی تېرېده، سلام يې ادا کړ، هغوی ست ورته وکړ، چې راشه له موږ سره ډوډۍ وخوره، هغه هم کېناست او له دوی سره يې ډوډۍ وخوړه، درې واړو په گډه ټولې اته ډوډۍ په مساوي توگه وخوړلې، کله چې هغه سړی ولاړ شو، اته درهمه يې د دوی مخې ته کېښودل او ويې ويل: دا واخلئ، د هغې ډوډۍ بدله ده چې ما له تاسو سره وخوړه. دواړه د درهمو په وېش کې سره په اختلاف شول، د پينځو ډوډيو خاوند وويل: پينځه درهمه زما دي او درې ستا؛ خو د درېيو ډوډيو خاوند وويل: زه يې نه منم، بايد درهمونه په مساوي توگه نيمايي- نيمايي ووېشل شي؛ نو دواړه اميرالمؤمنين علي رضي الله عنه ته ولاړل او خپله کيسه يې ورته بيان کړه.

علي رضي الله عنه د درې ډوډيو خاوند ته وويل: ستا ملگري هغه څه

۱ - الأحكام السلطانية، لأبي يعلى،ص:۷۶.

۲ - الطرق الحكمية، ص:۲۹.

درته ویلي کوم چې یې وړاندې کول او د هغه ډوډۍ له تا زیاتې وې؛ نو درې درهمه ومنه، هغه وویل: په الله قسم، زه یواځې په پوره حق راضي کېږم.

عليﷺ وویل: که د پوره حق غوښتنه کوې؛ نو ستا برخه یواځې یو درهم دی او اووه درهمه د هغه کېږي. هغه سړي وویل: سبحان الله! عليﷺ وویل: همداسې ده، هغه وویل: نو ماته د دې پوره حق حساب بیان کړه، تر څو زه یې ومنم، عليﷺ وویل: ټولې اته ډوډۍ وې، که هره ډوډۍ په درې برخو ووېشو، ټولې څلورویشت دریېمې برخې کېږي، تاسې درې کسان وئ او په مساوي ډول مو خوړلې دي؛ نو هر یو اته دریېمې برخې خوړلې دي، تا (د درې ډوډیو خاونده) نهه دریېمې برخې لرلې(۳×۳=۹) خو اته دې وخوړلې؛ نو یوازې یوه برخه دې پاتې شوه، چې هغه مېلمه خوړلې ده او ستا ملگري (د پینځو ډوډیو خاوند) پینځلس دریېمې برخې لرلې(۵×۳=۱۵) اته یې په خپله وخوړلې، اووه برخې یې پاتې شوې، چې هغه مېلمه خوړلې دي؛ نو مېلمه ستا یوه برخه خوړلې او د هغه یې اووه برخې خوړلې دي؛ څکه له اتو درهمو څخه یو درهم ستا او اووه درهمه د هغه کېږي. هغه سړي وویل: اوس راضي شوم.[1]

**د راشدي دورې د قضاء د څانگړتیاوو لنډیز:**

په راشدي دوره کې په قضائي نظام کې څانگړې نوښتونه رامنځته شول، چې ځینې یې دا دي:

۱- راشدي دوره دېرش کاله وغځېده او دا موده یې د نبوي دورې څخه اوږده ده.

۲- په راشدي دوره کې د اسلامي دولت ساحه د نبوي دورې په پرتله څو چنده پراخه شوه، همدارنگه اوسېدونکي او ولس هم زیات شول.

۳- په راشدي دوره کې د پخوانیو مأخذونو د قضاء لپاره نوي مأخذونه هم ایجاد شوي، لکه: مخکنۍ قضائي فیصلې او له مشورې سره اجتهادي نظر.

**اوس ممکن د راشدي دورې اړینې څانگړتیاوې په لاندې توگه ذکر کړو:**

۱- په راشدي دوره کې دقیق اداري نظم شتون درلود، عمر او عليﷺ مشهوره او تلپاتې لیکونه قاضیانو او والیانو ته ولېږل، تر څو د قضاء چارې منظمې کړي او په اساسي توگه تگلاره او منهج روښانه شي.

۲- د قاضیانو نظارت او له هغوی سره د نظر تبادله کېدل، همدارنگه د هغوی د حالاتو او فیصلو پوښتنه کول، چې دا څانگړتیا په خاصه توگه د عمرﷺ په دوره کې ډېره پیاوړې وه، د عثمانﷺ په دوره کې لږ کمزورې شوه او د عليﷺ په دوره کې د حالاتو د گډوډۍ، د فتنو د ډېرښت، کورنیو جگړو، په شام او شاوخوا سیمو کې د نیمه خپلواکۍ د راټوکېدو له امله نوره هم کمزورې شوه.

۳- له ولایتي چارو څخه د قضاء واک مستقل کېدل؛ څکه د نبوي دورې په نسبت موضوعات او دعوې ډېرې شوې وې.

۴- په منظمه توگه د قاضیانو لپاره د معاشونو ټاکل کېدل او آسانتیاوې ورته رامنځته کېدل.

۵- د قضاء لپاره څانگړې ځای او د بند لپاره زندان جوړ شو.

۶- د عمرﷺ په دوره کې قاضي ته لیکونکی(کاتب) وټاکل شو او د عثمانﷺ په دوره کې د قاضي سره د مرستې لپاره پولیس او مرستندویان پیدا شول.

۷- د حق موندلو او حقیقت څرگندولو لپاره د شاهدانو او مدعی علیهم جلا کول، چې دا بالآخره متل وگرځېد.

---

۱ - تاریخ الخلفاء للسیوطي،ص:۱۳۹.

# د قضاء، تحکیم او صلح تعریفونه او ترمنځ يې ځينې توپيرونه:

مولوي عبدالکریم «الکریمي» [1]

**د قضاء تعريف:**

د قضاء جمعه أقضية ده او په لغت کې فصل او قطع (جلا کولو او پرې کولو) ته وايي او په شريعت کې قضاء د حُکم او حاکِميت په معنی راځي.

علامه خالد الأتاسي (رحمه الله) ليکلي: قضاء او حُکم مترادف دي، يعنې په اصطلاحي معنی کې يې هېڅ توپير نشته.[2]

**د حُکم تعريف:**

حُکم په لغت کې منع ته وايي، قاضي ته هم له دې امله حاکم وايي، چې مُبطل د باطل د ترسره کولو څخه منعه کوي او حُکم په اصطلاح کې د قاضي يا حَکَم له لوري په مخصوصه طريقه هغه ته د وړاندې شوې مخاصمې او منازعې حل او فصل کولو ته وايي.[3]

**د تحکيم تعريف:**

تحکيم په لغت کې يو شخص (حَکَم) ته د حُکم سپارلو ته وايي او په اصطلاح کې د دعوې او خصومت د حل او فصل په موخه د جانبينو له لوري په رضا او رغبت د قضاء أهل شخص حَکَم/مُحَکَّم ټاکلو ته وايي.[4]

مذکور تعريف ته په کتو تحکيم د جانبينو او حَکَم تر منځ يو غير لازم عقد دی، چې د طرفينو څخه هر يو د حُکم تر صدرو مخکې کولی شي، چې حَکَم عزل کړي.[5]

---

١- د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو رياست مدقق

٢ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٦٤). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٧٨٤» (٤/ ٥٧٢). «شرح المجلة لـ خالد الأتاسي، شرح المادة: ١٧٨٤» (٦ / ٣).

٣ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٧٨٦» (٤/ ٥٧٣). «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٦٤). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام» (٤/ ٥٧٤).

٤ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٦٥). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٧٩٠» (٤/ ٥٧٨). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٧٩٠» (٤/ ٥٧٨).

٥ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٨٤٧» (٤/ ٧٠٠).

**د تحکیم رکن:**

د تحکیم رکن إیجاب او قبول دی، چې د مُحَکِّمینو او مُحَکَّم تر منځ په رضا او رغبت تر سره کېږي.[۱]

**د فضولي حَکَمیت:**

که د فضولي په توګه یو شخص د متخاصمینو تر منځ حُکم وکړي، وروسته یې جانبین په حُکم راضي شي او اجازه ورکړي، حُکم یې نافذېږي، البته په دې شرط، چې حَکَم به د حکمیت صلاحیت لري (د قضاء په أوصافو به موصوف وي) او حُکم به یې د شریعت مطهره سره موافق وي؛ ځکه لاحقه اجازه داسې ده، لکه سابق وکالت.[۲]

**د تحکیم د عقد ألفاظ:**

د تحکیم د عقد لپاره د تحکیم لفظ کارول ضروري نه دی، هر هغه لفظ چې یاده معنی افاده کوي، په هغه سره تحکیم جائز دی.[۳]

**د تحکیم شرطونه:**

د تحکیم شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. مُحکِّمان به عاقلان وي، کوچنی او لېونی د حُکم تفویض چا ته نه شي کولی (د حَکَمیت واک چا ته نه شي ورکولی).

۲. حَکَم (مُحکَّم) به هم د حکم د تفویض او هم د حُکم په وخت په هغو ټولو صفتونو موصوف وي، کوم صفتونه چې د قاضي لپاره شرط دي؛ ځکه نو که په کوچنیوالي کې یو ماشوم ته د حُکم تفویض وشي، په یاد تفویض په لویوالي کې هم حُکم نه شي کولی.

۳. حَکَم به معین وي؛ ځکه که مُحَکِّمان ووایي، چې که لومړی هر څوک مسجد ته راغی هغه زموږ حَکَم دی، یاد تحکیم نه صحیح کېږي، وروسته که هر شخص مسجد ته راغی د مذکور عقد په أساس یاد شخص حَکَم نه دی، البته دا نه ده ضروري، چې مُحَکِّمان به حَکَم پېژني.

٤. تحکیم به په شرط پورې نه معلق کوي او نه به یې یو وخت ته إضافت کوي، مثلا جانبین ووایي، چې که فلان شخص راغی، ته زموږ حکم یې! یا ووایي: د سبا په داخلېدلو سره ته زموږ حکم یې! البته په زمانه یې مقید کولی شي، مثلا په قطعي توګه ورته ووایي: ته زموږ حَکَم یې؛ خو زموږ تر منځ حُکم یواځې سبا ورځ کولی شې.[٤]

**د حَکَم د عزل طریقې:**

حَکَم په درېیو طریقو سره عزل کېږي:

۱. چې یو جانب یا دواړه جانبین یې عزل کړي.

۲. چې ماموریت یې پای ته ورسېږي، یعنې په کومه مسله کې، چې د حکمیت تفویض ورته شوی، هغه ترسره کړي یا یې حکمیت په زمانه مقید وي هغه زمانه تېره شي.

۳. چې حَکَم غیر أهل شي، یعنې کوم صفات چې د حَکَم لپاره ضروري وو، هغه پکې معدوم شي، مثلا ړوند یا مجنون شي.[٥]

**د صلح تعریف:**

صلح په لغت کې د مصالحې په معنی ده او مصالحه د

---

۱ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸٤۱» (٤/ ٦۹٦).

۲ - «مجلة الأحکام العدلیة» (ص۳۷٦). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸٥۱» (٤/ ۷۰٤).

۳ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸٤۱» (٤/ ٦۹٦).

٤ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام» (٤/ ٦۹٦). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸٤۹» (٤/ ۷۰۳).

٥ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸٤۷» (٤/ ۷۰۰).

مخاصمې ضد لفظ دی او یو د بل سره د طرفینو جوړجاړي ته وایي او په اصطلاح کې صلح یو عقد دی، چې د متخاصمینو په تراضي، نِزاع او مخاصمه له منځه وړي.[1]

**د صلح رکن:**

صلحه خپله یو مستقل عقد نه دی، کله یې حاصل عقد معاوضه او مبادله وي لکه بیع او... او کله یې بیا حاصل عقد غیر معاوضه وي، لکه إبراء او.... که یې حاصل عقد مُعاوضه او مُبادله وي، بیا إیجاب او قبول دواړه غواړي او که یې حاصل غیر معاوضه او غیر مبادله وي، بلکې إسقاط الحق او إبراء وي، بیا یواځې په إیجاب تامېږي، قبول ته یې ضرورت نه شته، یعنې په صلح کې په هر صورت إیجاب ضروري دی، که یې حاصل عقد معاوضه او مبادله وي او که إسقاط الحق او إبراء، البته قبول یواځې په هغه صلح کې ضروري دی، چې حاصل یې عقد معاوضه وي.[2]

**د متعاقدینو په اعتبار د صلح شرطونه:**

١. صلحه کونکي به د صلح أهلیت لري.[3]
٢. صلحه به په رضا وي، البته که لومړی صلحه په إکراه وشي او د إکراه تر إزالې وروسته مکرَه إجازه وکړي، بیا هم یاده صلحه نافذه ده.[4]

**د مصالح عنه په اعتبار د صلح شرطونه:**

١. مصالح عنه به حق العبد وي.[5]
٢. ثابت في المحل حق به وي او اعتیاض به ځنې صحیح کېږي؛ ځکه نو د شفع د حق څخه د شفیع صلحه نه صحیح کېږي.[6]
٣. مصالح عنه به معلوم وي، البته یاد شرط هغه وخت دی، چې د مصالح عنه تسلیم ته ضرورت وي.[7]

**د مصالح علیه په اعتبار د صلح شرطونه:**

١. متقوم مال به وي.[8]
٢. معلوم به وي، البته یاد شرط هغه وخت دی، چې د مصالح علیه تسلیم ته ضرورت وي.[9]

**ناجائزه صلحه:**

هغه صلحه جائزه نه ده، چې تحریم د حلال او یا تحلیل د حرام پکې شوی وي.[10]

**د صلح د انعقاد طریقې:**

صلحه په لاندې پنځو طریقو منعقده کېدلی شي:

١. په إیجاب او قبول.
٢. یواځې د مدعي په إیجاب.
٣. په تعاطي.

---

١ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٢٩٧). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٧).

٢ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٢٩٧). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٧). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٨). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام» (٤/ ٩).

٣ - «الموسوعة الفقهية الكويتية» (٢٧/ ٣٤٨).

٤ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص١٩٤). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٧).

٥ - الموسوعة الفقهية (٢٧/٤٥٠).

٦ - بدائع الصنائع (٦ / ٤٩).

٧ - بدائع الصنائع (٦ / ٤٩)، الفتاوى الخانية (٣ / ٨٨، ١٠٤).

٨ - البدائع (٦ / ٤٨).

٩ - «بدائع الصنائع (٦ / ٤٩)، الفتاوى الخانية» (٣ / ٨٨، ١٠٤).

١٠ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، أول كتاب الصلح» (٤/ ٥).

٤. په کتابت.

٥. د ګونګي په معروفه اشاره.[١]

**إسقاط الحق یواځې د صاحب الحق له لوري صحیح کېږي:**

هغه صلح، چې یواځې په إیجاب تامېږي، په هغې کې شرط دی، چې مُوجب صاحب الحق وي او د خپل حق إسقاط وکړي؛ ځکه نو د مدیون صلح د دین پر یوه برخه یواځې په إیجاب نه تامېږي.[٢]

**د صلح د عقد الفاظ:**

د صلح لپاره د مشخصو الفاظو کارول ضروري نه دي، هر هغه توري، چې په سیمه کې د صلح لپاره کارول کېږي په هغو صلح منعقده کېږي.[٣]

**توکیل بالصلح:**

لکه څنګه چې أصیلان خپله مستقیما صلحه سره کولی شي، د صلحې لپاره وکیلان هم ټاکلی شي، که د صلحې لپاره وکیلان وټاکي په یاد صورت کې د وکیلانو په رضا صلحه تامېږي، د وکیلانو تر رضا وروسته أصیلان رجوع نه شي کولی، بلکې صلحه إجبارا تطبیقېږي.[٤]

**د جرګې حکم:**

که متخاصمین جرګې ته عام او تام واک ورکړي او په جرګه کې با علمه خلک هم وي او په شرعي توګه د قضاء د أسبابو په أساس حکم وکړي؛ نو دا حکمیت بلل کېږي او د حُکم تر صدور وروسته یو جانب هم رجوع نه شي کولی او یاد حکم إجبارا تطبیقېږي.[٥]

که جرګه په یاد صورت کې یو جوړجاړی وکړي او پرېکړه د قضاء پر أسبابو اتکاء نه لري، البته تحلیل د حرامو او یا تحریم د حلالو پکې نه وي؛ بیا یاده پرېکړه صلح بلل کېږي او لاندې دوه صورتونه لري:

١. د جرګې تر توافق وروسته یاده صلحه تامه ده او تر إبلاغ وروسته إجبارا تطبیقېږي.

٢. د جرګې تر توافق او إبلاغ وروسته هم د جانبینو رضا شرط ده، که جانبین پرې راضي شي صلحه تامېږي او که یې یو جانب و نه مني؛ نو یاده صلحه تامه نه ده او إجبارا نه تطبیقېږي.

**په لاندې صورتونو کې صلح تر إبلاغ وروسته إجبارا تطبیقېږي:**

١. هر جانب په جرګه کې جلا جلا وکیل معلوم کړي او هغوی توافق ته سره ورسیږي او سره راضي شي.[٦]

٢. یا صلح د إسقاطاطو له جملې څخه وي، لکه إبراء، طلاق، عتاق او د صاحب الدین له لوري د دین إسقاط؛ ځکه په یادو عقودو کې عقد یواځې په إیجاب تامېږي، لکه مخکې چې یې تفصیل ولیکل شو.[٧]

ځکه نو که د یوه شخص پر بل شخص لس (١٠) أفغانۍ باندې وي او جرګه په اتو (٨) أفغانیو صلح وکړي، یاده

---

١ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٨).

٢ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٩).

٣ - «مجلة الأحکام العدلية» (ص١٦).

٤ - «مجلة الأحکام العدلية» (ص٢٩٧). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٥٣٢» (٤/ ١١). «مجلة الأحکام العدلية» (ص٣٧٦). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٨٥٠» (٤/ ٧٠٣).

٥ - «فتاوی حقانیه (٤٢٥/٥ أيضا ٤٥٤/٥)«مجلة الأحکام العدلية» (ص٣٧٥). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٧٩٠» (٤/ ٥٧٨).

٦ - «مجلة الأحکام العدلية» (ص٣٧٦). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٨٥٠» (٤/ ٧٠٣).

٧ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ١٥٣١» (٤/ ٩).

صلح پر مذکور إجبارا نافذه ده.

۳. یا صلح داسې عقد وي، چې وکیل پکې سفیر محض وي، لکه نکاح، خلع، هبه، رهن، إعارة، تصدق، إیداع، شرکت، مضاربت، صلح عن إنکار، صلح عن دم عمد او داسې نور او جرگه عقد طرفینو ته منسوب کړي؛ ځکه دلته که څه هم عقد إیجاب او قبول دواړه غواړي، یواځې په إیجاب عقد نه تامېږي؛ خو عاقد پکې سفیر محض دی او عقد په یوه شخص د تمامیت صلاحیت لري؛ ځکه د عقد حقوق عاقد ته راجع نه دي او یو شخص مُمَلِّک او مُتَمَلِّک نه کېږي.[1]

ځکه نو که یو سړی د قرض څخه إنکار کوي او جرگه په یوه معلوم شي صلح وکړي، یاده صلح إجبارا تطبیقېږي، همداسې نور...

البته یادونه باید وکړو، چې د قاضي بیع هم په یاد قسم کې داخله ده؛ ځکه قاضي ته هم د مصلحت له امله د عقد حقوق نه راجع کېږي.

**د لاندې شرطونو د وجود په وخت د جرگې صلحه تر إبلاغ وروسته إجبارا نه تطبیقېږي، بلکې د جانبینو رضا غواړي:**

۱. هر جانب په جرگه کې ځان ته جلا جلا وکیل نه وي نیولی.

۲. صلح د معاوضاتو له جملې څخه وي.

۳. عقد داسې نه وي، چې وکیل پکې د معبر او سفیر محض حیثیت لري.

ځکه په مذکور صورت کې عقد معاوضه دی او د عقد حقوق هم عاقد ته راجع دي؛ نو په مذکور صورت کې دوو أشخاصو ته ضرورت دی؛ ځکه یو سړی په یوه آن کې مُمَلِّک او مُتَمَلِّک نه شي کېدلی، لکه په بیع کې یو سړی بائع او مشتري نه شي کېدلی او جرگه د یوه شخص حیثیت لري؛ ځکه نو که یو شخص د لوښو، تانونو حیوانانو څخه په پیسو صلحه کوي یا د أفغانیو څخه په ډالرو صلحه کوي دا عقد معاوضه دی او په دویم قسم کې داخل دی.[2]

البته د یاد قسم څخه فقهاء کرامو یو عقد مستثنی کړی هغه دا چې پلار، د پلار وصي او نیکه د صغیر مال د ځان لپاره په خپلو شرطونو رانیولی شي، همداسې خپل مال پر صغیر خرڅولی شي.

بناء مذکور تفصیل ته په کتو نه مطلقا دا ویلی شو، چې د جرگې صلح إجبارا تطبیقېږي او نه مطلقا دا ویلی شو، چې د جرگې صلح إجبارا نه تطبیقېږي، بلکې هره صلحه به گورو، چې کوم عقد ځنې جوړ شوی او وروسته به د پورتني تفصیل مطابق فیصله کوو.

### د تحکیم او قضاء تر منځ مشترکات

**محَکَّم به د قاضي په شان د شاهد د صفاتو لرونکی وي:**

تحکیم یوه خاصه قضاء ده؛ ځکه نو په مُحَکَّم کې د هغو ټولو صفاتو وجود شرط دی، د کومو چې په قاضي کې شرط دی، مثلا: قاضي هغه څوک کېدلی شي، چې د شهادت أهل وي؛ نو په مُحَکَّم کې هم شرط دی، چې د شهادت أهل به وي؛ ځکه نو کوچنی، مریی، ړوند او محدود في القذف حَکَم

---

۱ - «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۴۶۰» (۴ / ۳۹۳). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۴۶۰» (۴ / ۳۹۴).

۲ - «النهایة في شرح الهدایة – السغناقي، کتاب الشفعة» (۲۲/ ۷۵ بترقیم الشاملة آلیا). «العنایة شرح الهدایة - بهامش فتح القدیر ط الحلبي، کتاب النکاح، فصل في الوکالة بالنکاح» (۳/ ۳۰۷). «البنایة شرح الهدایة، کتاب النکاح، فصل في الوکالة بالنکاح» (۵/ ۱۲۲). «الهدایة في شرح بدایة المبتدي، کتاب النکاح، فصل في الوکالة بالنکاح» (۱/ ۱۹۷). «البنایة شرح الهدایة، کتاب النکاح، فصل في الوکالة بالنکاح » (۵/ ۱۲۳). «فتح القدیر للکمال بن الهمام - ط الحلبي، کتاب النکاح، فصل في الوکالة بالنکاح» (۳/ ۳۰۷). «الفقه الإسلامي وأدلته للزحیلي، القسم الثاني: النظریات الفقهیة، الفصل الرابع: نظریة العقد» (٤/ ۲۹۲۵).

نه شي کېدلی، البته د فاسق حکمیت جائز دی؛ خو أولی داده، چې عادل سړی حَکَم وټاکل شي.[1]

د محَکَّم حُکم به د قضاء په څېر د قضاء پر أسبابو بناء وي: د قاضي په څېر د حَکَم حُکم هم د قضاء د أسبابو (لکه: إقرار، شهادت، یمین او نکول) څخه پر یوه باندې باید اتکاء ولري او که يې حُکم د قضاء پر أسبابو ولاړ نه وي نه نافذیږي، د مثال په توګه حَکَم پرته له مذکورو أسبابو په خپله رايه حُکم وکړي او ووايي: زما رايه دغه ده، یاد حُکم يې د نفاذ وړ نه دی.[2]

**د محَکَّم حُکم هم د قضاء په څېر واجب الإجراء دی:**

که تر صدور وروسته د حَکَم حُکم د قضاء پر یوه سبب اتکاء درلوده، د شریعت مطهره سره برابر وو او په خپل ولایت کې يې دننه کړی و (په کومه موضوع کې، چې مذکور حَکَم ټاکل شوی و، په هغه کې يې حُکم کړی و) که څه هم یو جانب پرې راضي نه وي، د قضاء په څېر إجبارا تطبیقیږي؛ ځکه مذکور حُکم پر جانبینو په شرعي ولایت (چې د دوی له طرفه یاد حَکَم ته تفویض شوی و) صادر شوی، بناء لکه تر تراضي وروسته، چې یو جانب د صلح څخه رجوع نه شي کولی، د حَکَم د حُکم تر صدور وروسته هم یو طرف رجوع نه شي کولی، حُکم لازم الإجراء دی، البته د حُکم تر صدور مخکې هر جانب کولی شي، چې حَکَم معزول کړي؛ ځکه د نوموړي واک د دوی (جانبینو) څخه مکتسب دی، که څه هم طرفینو د تحکیم په وخت شرط لګولی وي، چې یاد حَکَم به نه معزولوو، بیا يې هم تر حُکم مخکې هر جانب معزولولی شي؛ ځکه دا یو غیر لازم عقد دی.[3]

**د قُضاتو په څېر په مُحَکَّمانو کې هم تعدد جائز دی:**

د قضاء په څېر په تحکیم کې هم په اجتماعي توګه متعدد حَکمان منصوب کېدلی شي، البته داسې هم کېدلی شي، چې هر جانب د خپله طرفه حَکَم وټاکي؛ خو په دواړو صورتونو کې به د حُکم په وخت د ټولو حَکَمانو رايه متحده وي او یا به د مُحَکِّمانو (جانبینو) له لوري د رایو په أکثریت د حُکم إجازه ورته شوې وي.[4]

**مُحَکَّم د قاضي په څېر نائب درولی شي:**

که قاضي ته د سُلطان له لوري د نائب منصوبولو إجازه وي؛ نو نائب نصبولی شي، همداسې حَکَم ته که د مُحَکِّمانو (جانبینو) له لوري د نائب درولو إجازه وي، نوموړی هم نائب منصوب کولی شي؛ ځکه په تحکیم إذن توکیل دی. البته که پرته له إذن څخه مُحَکَّمان بل حَکَم وټاکي، بیا يې د حُکم د تنفیذ لپاره د طرفین إجازه شرط ده، که طرفین إجازه وکړي؛ نو مصدور حُکم يې نافذیږي؛ ځکه لاحقه إجازه د سابقه وکالت په څېر ده، یعنې لکه تر اجراآتو مخکې چې څوک وکالت لري، مُجاز اجراآت يې پر مؤکل نافذ دي، لاحقه إجازه هم دا حُکم لري او مخکې ته منسوبیږي.[5]

---

۱ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۱» (٤/ ٦٩٦).

۲ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٤/ ٦٩٧).

۳ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٦). «شرح مجلة الأحكام لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۸۴۸» (٦ / ١٥٩). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٤/ ٦٩٧). «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٦). «شرح مجلة الأحكام لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۸۴۷» (٦ / ١٥٨). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۷» (٤/ ٧٠٠).

٤ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٥). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۳» (٤/ ٦٩٨). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۳» (٤/ ٦٩٨). «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٥). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۴» (٦ / ١٥٦).

٥ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٥). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۵» (٦ / ١٥٧). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة:

**د قضاء په څېر تحکیم هم په زمان او مکان مقید کېږي:**

لکه قضاء چې د سُلطان له لوري په زمان او مکان مقیده کېدلی شي، همداسې تحکیم هم په زمان او مکان مقید کېدلی شي، تر تقیید وروسته که مُحکَّم مخالفت وکړ تر وخت مخته یا وروسته یې حُکم وکړ، إجبارا یې تنفیذ نه کېږي، البته که طرفین په خوښه د یاد حُکم د تنفیذ إجازه وکړي، بیا یې د فضولي په څېر حُکم نافذېږي.[1]

**د قضاء او تحکیم تر منځ توپیرونه**

**د ولایت په اعتبار د قضاء او تحکیم توپیر:**

د قاضي تولیه د مسلمانانو د سُلطان او أمیر له لوري وي او د هغه ولایت عام دی او د مُحَکَّم تولیه د طرفینو له لوري وي او د هغوی ولایت قاصر او محدود دی، یواځې پر ځان یې ولایت دی؛ ځکه د قاضي ولایت عام او د مُحَکَّم ولایت خاص شو، بناء د قضاء او تحکیم تر منځ هم په بېلابېلو اعتبارونو فرق دی، علي حیدر – رحمه الله – په خپل مشهور کتاب درر الحکام کې د قاضي او مُحکَّم تر منځ لاندې (٩) توپیرونه ذکر کړي:

١. د مُحَکَّم حُکم د جانبینو رضا غواړي (نصب یې د جانبینو له لوري وي) او د قاضي حُکم یې نه غواړي، طوعا او کرها یې پر جانبینو سُلطه ثابته او حُکم یې نافذ دی.
٢. مُحَکَّم په حد، قصاص او پر عاقله باندې په دیت کې حُکم نه شي کولی؛ خو قاضي یې په ټولو کې کولی شي.
٣. طرفین مُحَکَّم عزل کولی شي؛ خو قاضي نه شي عزل کولی؛ ځکه قاضي د امام له لوري منصوب دی، د دوی له لوري منصوب نه دی.
٤. د مُحَکَّم حکم غیر متعدي او پر طرفینو محصور دی؛ خو د قاضي حکم که پر شهادت بناء وي متعدي دی؛ ځکه که د عیب له امله پر بائع د حَکَم په حُکم مبیعه رد شي، بائع یې په یاد حُکم پر خپل بائع نه شي ردولی او د قاضي د قضاء په صورت کې یې ردولی شي، پر بائع قضاء پر بائع البائع هم قضاء ده؛ ځکه د قاضي ولایت پر دواړو شته.
٥. د مُحَکَّم حکم که پر قاضي د تدقیق په موخه عرض شي او د قاضي د مذهب مخالف وي، نقض کوي به یې؛ خو که د قاضي ورته حکم پر عرض شي، نه به یې نقض کوي.
٦. د مُحَکَّم په حکم وقف نه لازمېږي، همداسې د مُحَکَّم حکم د خلاف رافع نه دی؛ خو د قاضي په حُکم هم وقف لازمېږي او هم د خلاف رافع دی. د إمام أبو حنیفة – رحمه الله – په اند د وقف د لزوم لپاره د قاضي قضاء یا بعد الموت ته نسبت (إیصاء) شرط دی، د محکم حُکم د نوموړي په اند وقف نه لازموي، البته یادونه باید وکړو، چې په حُکم یا إیصاء د وقف د لزوم قول غیر مفتی به دی.
٧. د إمام أبو یوسف – رحمه الله – په اند د تحکیم تعلیق او إضافت جائز نه دی.
٨. نه به مُحَکَّم قاضي ته او نه به قاضي مُحَکَّم ته کتاب حُکمي لېږي؛ خو یو قاضي بل قاضي ته کتاب حکمي لېږلی شي.
٩. د مُحَکَّم حکم لازم او د قاضي حکم متعدي دی، لکه پر یوه وارث د مُحَکَّم حکم نورو وارثانو ته تعدی نه کوي؛

---

١٨٤٥» (٤/ ٦٩٩).

١ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص٣٧٥). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ١٨٤٦» (٦ / ١٥٧). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ١٨٤٦» (٤/ ٦٩٩).

خو پر یوه وارث د قاضي حکم (چې پر شهادت بناء وي) بل وارث ته تعدی کوي، همداسې که مُحَکَّم د خیار عیب له امله پر وکیل بالبیع حُکم وکړي، یاد حکم یې مؤکل ته نه متعدي کېږي؛ خو د قاضي حکم متعدي کېږي (پر وکیل حُکم پر موکل هم دی). همدارنګه په نسب، حریت، نکاح او ولاء د مُحَکَّم حُکم متعدي نه دی؛ خو په یادو شیانو د قاضي حُکم کافة الناس ته متعدي دی.[1]

**د لوړو (۹) ما فیه الامتیاز شیانو څخه د ځینو تشریح د إنفاذ په اعتبار د قضاء او تحکیم توپیر:**

که د یوه قاضي داسې حُکم چې د قرآن، حدیث او إجماع څخه مخالف نه وي، پر بل قاضي د تدقیق په موخه عرض شي؛ نو که څه هم مذکور حُکم د دویم قاضي د مذهب سره موافق نه وي، تنفیذ یې پرې واجب دی، البته که د حَکَم حُکم پرې عرض شي او د قاضي د مذهب سره موافق نه وي، که څه هم د قرآن، حدیث او إجماع سره مخالف نه وي، بلکې د یوه مجتهد د قول سره موافق وي؛ نو قاضي صاحب به یې باطلوي؛ ځکه د قاضي ولایت عام دی او قضاء یې په مجتهد فیها مسائلو کې خلاف پورته کوي او د حَکَم ولایت خاص دی او حُکم یې په مجتهد فیها مسائلو کې خلاف نه پورته کوي.[2]

**د حَکَم حُکم یواځې په ور سپارل شوې موضوع پورې محدود دی:**

قاضي ته چې د إمام له لوري د څومره دعوو د اورېدلو صلاحیت ورکړل شوی وي، په هغو ټولو کې یې حُکم نافذ دی او د مُحَکَّم واک یواځې د مُحَکِّمینو تر هغې موضوع محدود دی، چې د هغوی له لوري په هغې کې د حُکم تفویض ورته شوی وي، د مُحَکِّمینو په غیر مفوَّضه موضوعاتو کې هم مذکور حَکَم په یاد حکمیت حُکم نه شي کولی.[3]

**حَکَم یواځې په حقوق العباد المحضة کې حُکم کولی شي:**

حَکَم په هره ور سپارل شوې موضوع کې حُکم نه شي کولی، بلکې تحکیم یواځې په هغو دعوو کې جائز دی، چې په حقوق العباد المحضة کې وي، لکه د مالونو، نکاح، طلاق، کفالت، شفعه او داسې نور او هغه دعوې چې په حقوق الله المحضة کې وي، لکه حد الزنا، حد السرقة او حد الشرب او یا حقوق الله او حقوق العباد دواړه پکې موجود وي (که حق الله غالب وي او که حق العبد)، لکه حد القذف او قصاص په هغوی کې تحکیم جائز نه دی.[4]

**په حقوق الله المحضه او مشترکه کې د تحکیم د نه جواز دلیل:**

په حقوق الله المحضة او حقوق العباد غیر المحضة کې تحکیم ځکه جائز نه دی، چې تحکیم د صلح په څېر دی او صلح په حقوق الله کې نه کېږي؛ ځکه په یادو حقوقو کې

---

۱ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۹» (۷۰۳/٤).

۲ - «مجلة الأحکام العدلیة» (ص۳۷٦). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۹» (٦ / ۱۵۲). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۱» (٦ / ۱۵۲). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۹» (٤ / ۷۰۲). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۹» (۷۰۳/٤). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۹» (۷۰۳/٤).

۳ - «مجلة الأحکام العدلیة» (ص۳۷۵). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٦ / ۱۵۳). «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٦٩٨/٤).

٤ - «درر الحکام في شرح مجلة الأحکام، شرح المادة: ۱۸۴۹» (٤ / ۷۰۲).

طرفين خپله د يادو حقوقو مطلق يا کامل مالکان نه دي او صلح نه شي کولی؛ نو بل چا ته هم په ياد حق کې د صلح سُلطه نه شي ورکولی، يا دا چې د مُحَکَّم حُکم تر طرفينو خاص دی او پر نورو حجت نه دی؛ نو په تحکيم کې شبه موجوده شوه، د حدودو او قصاص استيفاء د شبه په صورت کې نه کېږي.[1]

**په ديت کې د تحکيم د نه جواز دليل:**

همداسې د قتل خطاء په وخت په ديت کې هم تحکيم جائز نه دی؛ ځکه حَکَم به يا د ديت حُکم پر عاقله کوي او يا پر قاتل، په لومړي صورت کې لکه مخکې، چې ياده شوه پر عاقله د حَکَم سُلطه نه شته؛ ځکه د حکم سُلطه تر طرفينو محدوده ده؛ نو پر عاقله يې حکم نه صحيح کېږي او که پر قاتل حکم وکړي؛ نو ياد حکم غير مشروع دی؛ ځکه په شريعت کې د ابن مالک – رضي الله عنه – د حديث شريف په أساس ديت پر عاقله دی.

البته که قتل د قاتل په إقرار ثابت شي او عاقله يې تصديق و نه کړي، بيا د حَکَم حُکم صحيح دی؛ ځکه پر عاقله د هغه ديت أداء نه شته، چې د قاتل په إقرار ثابت وي، بلکې ديت خپله پر قاتل لازم دی.[2]

**د محکوم عليه په اعتبار د قضاء او تحکيم توپير:**

همدارنگه د قاضي حُکم د هغه په سُلطه کې پر ټولو أفرادو نافذ دی او د مُحَکَّم حُکم يواځې پر طرفينو جاري دی، حتی په هغو مسائلو کې هم ثالث شخص ته تعدی نه کوي، چې په هغو کې پر حاضر حُکم پر غائب هم حُکم وي.

البته فقهاء کرامو – رحمهم الله – يوه استثناء ذکر کړې، هغه دا چې که دوو شريکو تجارانو پور پر يو چا باندې شي او بيا يو شريک د غريم سره پر يوه حَکَم صلاح شي او حَکَم ياد شريک ملزم کړي؛ نو دغه حکم يې هغه بل شريک ته هم تعدی کوي او هغه هم ملزم گرځي؛ ځکه ياد حکميت د صلح په څېر دی او په صلح کې د تجارانو معمول دی، چې شريک صلح کوي او يو شريک د بل شريک په صلح راضي وي.[3]

**د صلح، تحکيم او قضاء تر منځ توپيرونه**

د صلح، تحکيم او قضاء تر منځ متعدد توپيرونه وجود لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱. قاضي او مُحَکَّم ځانگړي شرطونه لري؛ خو د مُصلح لپاره ياد شرطونه ضروري نه دي.

۲. په صلح کې عموما د جانبينو رضا شرط ده او په تحکيم او قضاء کې تر نصب او حُکم وروسته تنفيذ إجباري دی.

۳. په تحکيم او قضاء کې حتمي ده، چې پر مخصوصو أسبابو به بناء وي؛ خو په صلحه کې ياد شرط نه شته. (چې د يادو درېيو واړو بيان په تفصيل سره وليکل شو).

٤. د فاسدې او متناقضې دعوې په صورت کې هم صلح صحيح کېږي؛ ځکه په يادو صورتونو کې نزاع شته او صلح د نزاع د رفع په موخه مشروع شوې.[4]

---

۱ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص۳۷۵). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام» (٤/ ٦۹٥).

۲ - «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۱» (٦ / ۱٥۲). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۱» (٦ / ۱٥۲ - ۱٥۳).

۳ - «مجلة الأحكام العدلية» (ص۳۷۵). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٦ / ۱٥۳). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٤/ ٦۹۷). «شرح المجلة لـ محمد خالد الأتاسي شرح المادة: ۱۸۴۲» (٦ / ۱٥٥). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱۸۴۲» (٤/ ٦۹۸).

٤ - «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱٥۳۱» (٤/ ۷). «درر الحكام في شرح مجلة الأحكام، شرح المادة: ۱٥۳۱» (٤/ ۸).



# د سترې محکمې عالي مقام د دفتر له عمومي رئیس محترم الحاج مولوي عبدالوکیل «حقاني» سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۶ | تخار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۸۵ | ۱۰۵ | ۱۹۰ | ۴۶ | ۱۴۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | نورستان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۳ | ۷ | ۲۰ | ۶ | ۱۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۳ | ۷ | ۱۰ | ۹ | ۱ |
| ۲۸ | بامیان | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴۰ | ۲۹ | ۶۹ | ۲۱ | ۴۸ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۲۹ | غور | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۴۷ | ۲۵ | ۷۲ | ۱۸ | ۵۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۴ | ۴ | ۴ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۱۸ | ۸ | ۲۶ | ۱۶ | ۱۰ |
| ۳۰ | بادغیس | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۳ | ۲۴ | ۳۷ | ۲۳ | ۱۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۵ | ۰ | ۵ | ۵ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۵ | ۵ | ۵ | ۰ |
| ۳۱ | دایکندی | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۲ | ۲ | ۱ | ۱ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۲ | پکتیکا | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۰ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | | | | |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۳ | کندهار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۱۰۸ | ۲۴ | ۱۳۲ | ۳۰ | ۱۰۲ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۳۴ | ننگرهار | الف: قضایای حق میراث ومالکیت . | ۳۴ | ۳۱ | ۶۵ | ۳۱ | ۳۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ۳ | ۰ | ۳ | ۳ | ۰ |
| | | مجموعه عمومی | ۱۴۹۶ | ۳۵۹۶ | ۵۰۹۲ | ۳۰۸۵ | ۲۰۰۷ |

**خلاصهٔ جدول مجموعهٔ قضایای مربوط به حقوق زنان که طی ربع دوم سال ۱٤٤۷هـ ق به آن رسیدگی صورت گرفته‌است.**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ ولایت | مجموعه قضایا | الف: قضایای حق میراث و مالکیت . | ۱۳۹۹ | ۱۴۲۹ | ۲۸۲۸ | ۹۴۴ | ۱۸۸۴ |
| | | ب: اخذ میراث و سند ملکیت. | ۲۹ | ۱۵۱ | ۱۸۰ | ۱۳۹ | ۴۱ |
| | | ج: ثبت سند ملکیت بنام زن که مهر وی تعین گردیده باشد . | ٦۸ | ۲۰۱٦ | ۲۰۸۴ | ۲۰۰۲ | ۸۲ |

**تعداد قضایای رسیدگی شده مواد مخدر به شمول قضایای تحت کار**

**طی ربع دوم سال ۱٤٤۷ هـ ق**

| شماره | مرحله | نوعیت قضایا | | مجموع قضایا | قضایای رسیدگی شده | قضایای تحت کار | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرحله ابتدائیه | مواد مخدر | قاچاق | ۱۱۱۲ | ۸٤۹ | ۲٦۳ | |
| | | | استعمال | ۳٦۳ | ۲۹٦ | ٦۷ | |
| | | | خرید و فروش | ۱۰٦ | ۸۷۰ | ۱۳٦ | |
| | | | تولید | ۲۳٤ | ۱۷۵ | ۵۹ | |
| ۲ | مجموع | | | ۲۷۱۵ | ۲۱۹۰ | ۵۲۵ | |
| ۳ | مرحله مرافعه | مواد مخدر | قاچاق | ۱۱۰ | ۸٦ | ۲۴ | |
| | | | استعمال | ۹۷ | ۸۹ | ۸ | |
| | | | خرید و فروش | ۵۰ | ۴۳ | ۷ | |
| | | | تولید | ۲ | ۲ | ۰ | |
| ۴ | مجموع | | | ۲۵۹ | ۲۲۰ | ۳۹ | |
| ۵ | مرحله تمیز | مواد مخدر | قاچاق | ۳۱ | ۳۰ | 1 | |
| | | | استعمال | ۰ | ۰ | ۰ | |
| | | | خرید و فروش | ۰ | ۰ | ۰ | |
| | | | تولید | ۰ | ۰ | ۰ | |
| ٦ | مجموع | | | ۳۱ | ۳۰ | ۱ | |
| ۷ | مجموع کل | | | ۳۰۰۵ | ۲۴۴۰ | ۵٦۵ | |

دویمه برخه

# د ۱۴۴۷ هـ.ق کال د دویمې ربعې اداري راپور

## د سترې محکمې قضائي معاونیت

د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۷هـ.ق کال د دویمې ربعې په جریان کې لاندې مهم اجراآت ترسره کړي دي:

۱- د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې قضائي معاونیت ته له بېلابېلو ارګانونو (۸۷۰) مکتوبونه راغلي، چې د قضائي مرستیال صاحب تر اجراآتو وروسته بېرته اړوند ارګانونو ته لېږل شوي دي.

۲- د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې د محترم قضائي مرستیال له تائید او تعدیل وروسته (۴۵۲) تعزیراتي دوسیې اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي.

۳-د دویمې ربعې په جریان کې د سترې محکمې قضائي معاونیت ته (۲۵۴۳) د حقوقي او قضائي موضوعاتو عریضې راغلې چې د قضائي مرستیال صاحب تر هدایت وروسته احکام او اصحاب دعوی یا اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي؛ له دې ډلې یې (۷۰۸) عریضې مستردې شوې هم دي.

## د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست

د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست د ۱۴۴۷ هـ.ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱-د دویمې ربعې په جریان کې د مرکزي تمیز عالي ریاست د تېرې اداري اړوند (۴۱۲) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې له دې جملې څخه (۱۱۲) جلده د څانګړو محاکمو دوسیې (د پخوانی اداري د محاکمو د پرېکړو په تړاو د قضائي هیئت فیصلې) تائید شوې، (۱۶۷) جلده دوسیې نقض شوې او (۱۳۵) جلده دوسیې د تکمیل او مهر لګولو په موخه د مکتوب له لارې بېرته اړوندو مراجعو ته مستردې شوې دي.

۲-د دویمې ربعې په جریان کې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته له اړوند مراجعو څخه (۱۶۶۹) دوسیې را رسېدلې دي، چې په دې کې (۹۶۶) جلده د تمیز غوښتنې دوسیې، (۲۲۴) جلده حقوقي دوسیې، (۷۰) جلده جزائي دوسیې او (۴۰۹) جلده متفرقه دوسیې شاملې دي.

۳-د دویمې ربعې په جریان کې یاد ریاست ته (۲۴۳۹) عریضې را رسېدلې دي، چې له دې جملې څخه (۱۳۸۸) عریضې تر اړینو اجراآتو او احکامو وروسته اصحاب دعوی ته سپارل شوې، (۸۱۶) نامرتبطې عریضې مستردې شوې او (۲۳۵) عریضې له اعتراضونو سره یو ځای له اړوند دوسیو سره ضمیمه شوې دي.

## د سترې محکمې د محترم عالي مقام دفتر عمومي ریاست

د سترې محکمې محترم عالي مقام د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۷هـ.ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په دویمه ربعه کې له محاکمو او د اسلامي امارت له بېلابېلو ادارو څخه (۳۶۹۸) مکتوبونه د هدایت غوښتنې په موخه راغلي؛ چې د محترم عالي مقام له هدایت وروسته اړوندو برخو ته لېږل شوي دي.

۲ـ په دویمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام لخوا (۱۷۵۰) تعزیراتي او حقوقي دوسيې قضائي معاونیت ته لېږل شوې دي.

۳ـ په دویمه ربعه کې دوه قوانین د منظورۍ په موخه د مشرتابه محترم عالي مقام دفتر ته لېږل شوي دي.

۴ـ په دویمه ربعه کې د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب له دوولس مسؤولینو او مراجعینو سره لیدنه کړې ده.

۵ـ په دویمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رئیس له (۱۰۰) مراجعینو سره د هغوی د ستونزو د اورېدو او حل په موخه لیدنه کړې ده.

٦ـ په دویمه ربعه کې (۸۸) کسانو ته د یاد ریاست د معلوماتي غرفې له لارې داخل ته اجازه ورکړل شوې او غوښتنې یې اورېدل شوې دي.

۷ـ په دویمه ربعه کې د محترم عالي مقام لخوا (۴۸) حوالې اجرا شوې دي.

۸ـ په دویمه ربعه کې د رؤیت هلال مرکزي هیئت درې غونډې تنظیم او ترسره شوې دي.

۹ـ په دویمه ربعه کې د تعلیمي نصاب هیئت (۱۲) غونډې تنظیم او ترسره شوې دي.

۱۰ـ په دویمه ربعه کې (۴۶) دوسيې او پېشنهادونه د مشرتابه محترم عالي مقام دفتر ته لېږل شوې دي.

## د سترې محکمې د عالي مقام د تحریراتو ریاست

د سترې محکمې د عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه سرته رسولي دي:

۱-په دویمه ربعه کې د مقام د تحریراتو ریاست ته له وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسیونونو، د (۳۴) ولایتونو له محاکمو او نورو اړوند ادارو څخه (٦۲۵) رسمي لیکونه د سترې محکمې په عنوان رارسېدلي، چې له لارښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د وروستیو کړنو تر سره کولو په موخه صادر شوي.

۲-په دویمه ربعه کې د مقام د تحریراتو ریاست ته له مخابراتو وزارت څخه (۱۲۳۵) رسمي لیکونه رارسېدلي، چې اړوند څانګې ته راجع شوي.

۳-په دویمه ربعه کې د مقام د تحریراتو ریاست ته د ریاست الوزراء محترم مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غیر امارتي بانکونو او د سترې محکمې له مرکزي ریاستونو څخه (۸۹۵) مکتوبونه، د استهدا څانګې دوسيې، تجدید نظر، د صلاحیت تفویض، د محکمې تبدیلي او د ملک د محاکمو هدایت غوښتنې اړوند اسناد د سترې محکمې په عنوان رارسېدلي و او له لارښوونې وروسته اړوند مراجعو ته د وروستیو کړنو ترسره کولو په موخه صادر شوي.

٤-په دویمه ربعه کې د مقام د تحریراتو ریاست له خوا ټول (۱۴۹۷۳) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د آرشیف مدیریت ته صادر او وارد شوي، چې د لازمو اجراآتو تر ترسره کېدو وروسته د وروستیو کړنو د بشپړولو په موخه اړوندو څانګو ته لېږل شوي دي. همدارنګه د آرشیف مدیریت له لارې (۷۰۳۹) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د ملک د ولایاتو مرافعه محاکمو او نورو امارتي ادارو ته د وروستیو اجراآتو لپاره لېږل شوي او سربېره پر دې، ټول (۱٦۴٦) قطعې نشراتي پارسلونه هم د ملک د ولایاتو مرافعه محاکمو او نورو امارتي ادارو ته د تطبیق په موخه لېږل شوي دي.

۵-په دویمه ربعه کې د مقام د تحریراتو ریاست له خوا د ملک له مرافعه محاکمو څخه ټول (۱۸۱) قطعې مکتوبونه ترلاسه شوي، چې له دې جملې (۱۴۸) قطعې مکتوبونه، چې

د قبالو او نورو وثايقو د معلوماتو په اړه وو؛ اړوندو غوښتونکو محاکمو ته يې په خپل وخت رسمي معلومات لېږل شوي دي. همدارنګه (۳۳) قطعې مکتوبونه، چې د ۱۴۰۰ څخه تر ۱۴۰۴ هـ ش کلونو پورې د وثايقو (۱۷۹) جلده کلني راپورونه د بېلابېلو محاکمو له لوري او د سترې محکمې د امنيت عامه ديوان له خوا (۷۳۰۰) قضائي قرارونه د ساتنې لپاره را لېږل شوي وو، په مخزن کې حفظ او ځای پر ځای شوي دي.

۶- په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست د مراجعينو (۴۰۸۶) عريضې د مقام د هدايت په اساس په اړوند دفاترو کې ثبت او بيا ځلې خپلو صاحبانو ته سپارلې دي او هغه عريضې چې محاکمو پورې اړوند نه وې او يا يې غوښتنې غير قانوني وې، په اړه يې هر مراجعه کوونکي ته لازمې لارښوونې شوې دي.

۷- په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست لخوا (۵۰۴) مکتوبونو په اړه د سترې محکمې عالي مقام د هدايت په اساس لازمې کړنې ترسره شوې او اړوند اداراتو ته رسمي مراسلات لېږل شوي.

۸- په دويمه ربعه کې د مقام د تحريراتو رياست ته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) او د اسلامي امارت د محترم رئيس‌الوزراء د مقام او د رياست الوزراء د محترمې کابينې له لوري ټول (۱۸۰) قطعې احکام، (۴) قطعې فرمانونه او (۴) مصوبې را رسېدلي، چې د سترې محکمې د عالي مقام له هدايت وروسته د تطبيق او اجراآتو په موخه اړوندو مراجعو ته صادر شوي دي.

## د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست

د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱ـ په دويمه ربعه کې د قضائي تدقيق رياست له لوري د (۳۴۱) جزائي، مدني، تجارتي، وثايقو، متفرقه استهداآتو، د قضائي پلټنې عمومي رياست، د عارضينو د عرايضو، مکتوبي او مستردي ټولو استهدائي موضوعاتو په تړاو تدقيقي نظرونه وړاندې شوي دي.

۲ـ په دويمه ربعه کې د جزا ديوان د طرزالعمل کتاب د لازمو اصولو مطابق ترتيب، تنظيم او عالي شورا ته د مطرح کولو په موخه د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رياست ته ولېږل شو.

۳ـ په دويمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د (۴۵۸۶/۶۴۲) شمېرې او ۱۴ /۸ /۱۴۴۶هـ ق نېټې حکم پر بنسټ د «صلح» د طرزالعمل کتاب د لازمو اصولو مطابق ترتيب، تنظيم او عالي شورا ته د مطرح کولو لپاره د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رياست ته ولېږل شو.

۴ـ په دويمه ربعه کې د وثايقو په تړاو مطالعاتي نظر ترتيب شو او د وثايقو د درېيو ډولونو په اړه رهنمودونه د لازمو اصولو مطابق په دري او پښتو ژبو ترتيب، تنظيم او عالي شورا ته د وړاندې کولو لپاره د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست ته ولېږل شول.

۵ـ په دويمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام د هدايت پر اساس، قضائي مدققينو (۲۷) ډوله طرزالعملونه وکتل، له تصحيح وروسته يې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست ته ولېږل.

۶ـ په دويمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام د هدايت پر اساس د قضائي مدققينو جلسه جوړه شوه؛ چې په کې بېلابېلې وثيقې تر غور او تدقيق لاندې ونيول شوې.

۷ـ په دويمه ربعه کې د درې ډوله وثايقو [د رسيد خط، د شراکت خط (عنان، مفاوضه، تقبل، وجوه) او مجرد خط وثيقو] په اړه رهنمودونه په دري او پښتو ژبو ترتيب او د محترم قضائي معاونيت له تائيد، هدايت او د سترې محکمې د عالي مقام د مشورتي شورا له مطرح کېدو وروسته د ملک د (۳۴) ولايتونو د مرافعه محاکمو رياستونو ته ولېږل شول.

۸ـ په دویمه ربعه کې د محاکمو اړوند د مهرونو د تهیه او کارونې د طرزالعمل کتاب د لازمو اصولو مطابق ترتیب، تنظیم او عالي شورا ته د مطرح کولو لپاره د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست ته ولېږل شو.

۹ـ په دویمه ربعه کې د قضائي مطالعاتو ریاست اړوند د لایحې کتاب د اسلامي امارت د اصولو او قوانینو موافق ترتیب، تنظیم او تر نهایي کېدو وروسته د وروستیو اجراآتو په موخه اړوند مرجع ته ولېږل شو.

۱۰ـ په دویمه ربعه کې د قضائي تدقیق ریاست اړوند د لایحې کتاب د اسلامي امارت د اصولو او قوانینو موافق ترتیب، تنظیم او د وروستیو اجراآتو په موخه اړوند مرجع ته ولېږل شو.

۱۱ـ په دویمه ربعه کې د محاکمو د قضائي غړو د سلوک طرزالعمل کتاب د اسلامي امارت د اصولو او قوانینو په چوکاټ کې ترتیب، تنظیم او د منظورۍ په موخه د مشرتابه محترم مقام ته ولېږل شو.

۱۲ـ په دویمه ربعه کې د اداري منسوبینو د سلوک طرزالعمل کتاب تر غور او تحقیق لاندې او (۶۰) سلنه کار یې بشپړ شوی او دغه راز د محاکمو د تحریراتو ریاست د طرزالعمل کتاب تر غور او تحقیق لاندې او (۶۰) سلنه کار یې بشپړ شوی دی.

۱۳ـ په دویمه ربعه کې د سترې محکمې له فرهنګي مرکزونو څخه د استفادې لارښود تر غور او تحقیق لاندې نیول شوی او (۵۰) سلنه کار یې بشپړ شوی او دغه راز د عقاري ملکیت اسنادو د دوراني فورم لپاره لارښود کتاب تر غور او تحقیق لاندې نیول شوی او (۶۰) سلنه کار یې بشپړ شوی دی.

## د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست

د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

د دارالانشاء عمومي ریاست په دویمه ربعه کې د محاکمو د تبدیلۍ اړوند (۶۷۸) موضوعاتو، د استهداآتو اړوند (۱۷۳) موضوعاتو، (۱۸۰) متفرقه موضوعاتو، د تنازع صلاحیت اړوند (۳۹) موضوعاتو، د قضاتو د تخلفاتو اړوند (۹۹) موضوعاتو، د تجدید نظر اړوند (۱۸۹) موضوعاتو او (۱۲) متحدالمآلونو ته، چې په مجموع کې (۱۳۷۰) موضوعات کېږي؛ له اصولو سره سم رسېدنه کړې ده.

## د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱.په دویمه ربعه کې د کارکوونکو چارو عمومي ریاست لخوا د ملک د محاکمو په کچه د کارکوونکو چارو اړوند ګڼ اداري اقدامات ترسره شوي دي؛ په دې لړ کې د (۱۲۹) قاضیانو او اداري کارکوونکو د تقرر او تبدیلۍ په برخه کې لازم اجراآت شوي دي.

۲.په دویمه ربعه کې د (۴۰۰) قاضیانو او اداري کارکوونکو د تحصیلي معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه له اړوند ارګان څخه رسمي غوښتنه شوې ده.

۳.په دویمه ربعه کې د اړتیا او د اړوند هیئت د هدایت له مخې (۶۲) علماء کرام چې په قضائي برخه کې یې دنده ترسره کوله، مشخصو محاکمو ته په خدمتي ډول لېږل شوي او (۴۰۰) علماءکرام د قضائي مقرریو په موخه د ذیصلاح مقام د هدایت له مخې د قضائي زده کړو عمومي ریاست ته د آزموینې لپاره معرفي شوي، چې آزموینه یې د محترم هیئت لخوا واخیستل شوه.

٤.په دویمه ربعه کې د ولایتونو محاکمو د منسوبینو د میاشتنیو حاضریو راپورونه څېړل شوي دي.

٥.په دویمه ربعه کې د مرکز او ولایتونو په کچه د خالي بستونو د ډکولو په موخه د اسنادو راټولولو، وړاندیزونو، عرایضو ترتیب، د اجنډا جوړولو، د آزموینو لپاره د متقاضیانو خبرولو او د پایلو د ابلاغ په برخو کې لازم اقدامات شوي دي.

۶.د مرکزي رياستونو او د مرافعه محاکمو اړوند د (۲۱۵) ملکي کارکوونکو د ارزونې فورمونه راټول او وځارل شول؛ پايلې يې په رسمي ډول منظورې او له اړوند ادارو سره شريکې شوې دي.

۷.د حقوقو عمومي رياست اړوند ځينې کاري اسناد لکه: (د حقوقي دوسيو د اندراج او ثبت کتابونه، د عرايضو د ثبت او اجراآتو کتابونه، جلب‌پاڼه او د هغې د ثبت کتاب، اصلاح خط او د هغه د ثبت کتاب او ضمانت خط) چې په مرکز او ولاياتو کې ترې په ورځنيو چارو کې استفاده کوي د تصويب او نهايي کېدو په موخه تعقيب شول.

۸.په دويمه ربعه کې د ظرفيت لوړونې او اجراآتو د ارزونې رياست د مسلکي غړو نظرونه، راپور او د حقوقي اداراتو د اجراآتو تعليمات‌نامې د جدول په ډول تيار او د نهايي کېدو او تصويب لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۹.په دويمه ربعه کې د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند مجاهدينو ته د کمپيوټر د اساسي مهارتونو تر سرليک لاندې يوه ښوونيزه برنامه جوړه شوې ده.

۱۰.په دويمه ربعه کې د روزنيز پلان د تطبيق او د سترې محکمې کارکوونکو د مسلکي او مديريتي کچې د لوړوالي په موخه د اړيکو، راپور ليکلو، مديريت او نظارت په برخو کې د سيمينارونو جامع لارښود ترتيب او تدوين شوی دی.

## د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست

د حقوقو عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د ۱۴۴۷هـ ق کال په دويمه ربعه کې (۱۰۱٬۱۸۶) حقوقي عرايضې ثبت او په اړه يې اجراآت شوي دي.

۲ـ په دويمه ربعه کې د مدني، تجارتي او فاميلي حقوقي موضوعاتو اړوند (۱۷٬۷۷۱) دوسيې د اړوندو محاکمو له خوا د قانوني مراحلو له مخې پروسس او تعقيب شوې دي.

۳ـ د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې (۱۶٬۷۳۱) حقوقي قضيې د سولې او مصالحې له لارې حل او فصل شوې دي.

۴ـ د مدني، تجارتي او فاميلي قضيو په تړاو د صادره پرېکړو د تطبيق او تنفيذ په برخه کې لازم اجراآت ترسره شوي دي.

۵ـ د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې د محاکمو (۲٬۸۰۵) نهايي فيصلې او قضائي قرارونه تطبيق او نافذ شوي دي.

## د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رياست

د سترې محکمې قضائي زده کړو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ په دويمه ربعه کې د قضائي زده کړو عمومي رياست له خوا د خوست ولايت مرافعه، د ثبت اسناد او وثايقو آمريت او د ټولو ابتدائيه محاکمو (۲۸) منسوبينو لپاره د مرافعې محکمې په مقر کې درې ورځنی سيمينار جوړ شوی دی.

۲ـ په دويمه ربعه کې د قضائي زده کړو عمومي رياست له خوا د سترې محکمې د مرکز او ولايتونو د اختصاصي محاکمو (۸۸) برحاله قاضيانو، مفتيانو او محررينو لپاره د ياد رياست په تالار کې، (۱۳) ورځنی سيمينار جوړ شوی دی.

## د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست

د سترې محکمې دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي:

۱ـ په دويمه ربعه کې د دعوت او ارشاد رياست لخوا هره ورځ د ماپښين تر لمانځه وروسته د سترې محکمې د ټولو رياستونو کارکوونکو ته د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدو وزارت لخوا د ورکړل شوي درسي نصاب مطابق، نيم ساعت تدريس شوی دی.

۲ـ په دويمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د فرمان مطابق د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون، فرمانونو، حکمونو، هداياتو او لارښوونو جريده، د لارښوونې کتاب، د شرعي نظام په استحکام کې د اطاعت اغېزې، د لمانځه د اقامې په اړه فرمان او توصيې او د بدو

رواجونو د مخنیوي په اړه فرمان تدریس شوی دی.

۳ـ په دویمه ربعه کې د دعوت او ارشاد ریاست له خوا په هره اونۍ کې دوه ځلې د سترې محکمې ټولو غړو ته اصلاحي بیان او د سترې محکمې د محافظتي قطعې مجاهدینو ته په بېلابېلو وختونو کې د نظامي درسونو اړوند کتابونو تدریس شوي دي.

۴ـ د دعوت او ارشاد ریاست له خوا په یوه ربعه کې درې ځلې د سترې محکمې مرکزي ریاستونو نظارت شوی؛ په ترتیب سره هره ورځ د یوه ریاست څخه لیدنه شوې او هغوی ته د لا ښه فعالیتونو ترسره کولو لپاره نېکې سپارښتنې شوې دي.

۵ـ د دعوت او ارشاد ریاست له خوا د سترې محکمې محترمو شیوخ کرامو، رئیسانو، آمرینو، قاضیانو او قضائي غړو ته په یوه ربعه کې درې مذاکراتي غونډې جوړې شوې دي.

۶ـ د دعوت او ارشاد ریاست له خوا په یوه ربعه کې درې ځلې د کابل ولایت مرافعه، وثایقو، قضائي زده کړو، ښاري ابتدائیه، نشه‌يي توکو او نظامي محاکمو، د حقوقو عمومي ریاست او د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند منسوبینو نظارت شوی او هلته د اصلاحاتو په موخه ځانګړې جلسې جوړې شوې دي.

## د سترې محکمې د دارلافتاء ریاست

د سترې محکمې د دارالافتاء ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه (۱۶) شرعي فتواوې صادرې کړې، چې له یادو فتواوو څخه د ټولو محاکمو قاضیان او قضائي غړي د شرعي لارښوونې په موخه استفاده کوي او د قضایاوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي دلیل جوړوي.

## د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي ریاست

د سترې محکمې د مالي او اداري عمومي ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱-د مرکزي ریاستونو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د لومړۍ، دویمې او درېیمې ربعې په جریان کې د پټرولو، ډیزلو تېلو او روغتیایي محصولاتو د پېر، د لیلام وړ (۱۲) موټرو د اسنادو د ترتیب او د ۱۰ سلنه تخفیف د تطبیق، د خدماتي کارکوونکو د جامو د برابرولو او وېش، د څلورو زونونو د محاکمو د کمپیوټرونو او اړوندو وسایلو، د اضافي بخاریو د راټولولو، د سترې محکمې د وېشل شویو موټرسایکلونو د تثبیت او نوي کولو او همدارنګه د خوراکي او تنظیفاتي موادو د ارزونې، قیمت ټاکلو، اکمال او توزیع لپاره ځانګړې هیئتونه ټاکل شوي دي.

۲-د سترې محکمې د پرسونل او مراجعینو د ستونزو د حل او هغوی ته د اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه، د مرکزي دفترونو د اسنادو د ساتنې لپاره د مسلکي پرسونل له لوري الماری جوړې شوې، د برق جنراتورونه د امنیتي او اجرائیوي قطعې څخه څلورو زونونو او د کابل ولایت مخزن ته انتقال، نصب او فعال شول.

۳-د سترې محکمې مرکزي دفترونو، د کابل ولایت مرافعه محکمې، د نشه‌يي توکو او مسکراتو اړوند محکمې او د څلورو زونونو د محاکمو د ایرکنډیشن سیستمونه ترمیم، نصب او فعال شول.

٤-د مرکزي دفترونو او زونونو د محاکمو د ودانیو د رنګمالۍ براورد وشو، د کابل ولایت د مخزن او د څلورو زونونو د محاکمو ویرنګ‌کاري بشپړه شوه او د څلورو زونونو د مراجعینو د داخلي او خارجي لارو دېوالونه اعمار او پلستر شول.

۵-د سترې محکمې د روغتیایي کلینیک له لوري (۵۵۰۳) نظامي او ملکي ناروغو کارکوونکو ته د پانسمان، زرقیاتو، سیروم، اکسیجن او د زړه ګراف برخو کې روغتیایي خدمتونه وړاندې شول.

٦-د کابل ولایت د مرافعه محکمې د مخزن لپاره د (۳۴)

فلزي الماريو او زغره‌والو دروازو د جوړولو پروژه بشپړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه او د ښاري ابتدائيه محاکمو په پارکينګ کې د ترانسپورت آمريت د وسايطو د ترميم د ورکشاپ پروژه شاوخوا (۵۰) سلنه پرمختګ لري.

۷-د ده‌سبز، سروبي او استالف ولسواليو ابتدائيه محاکمو ته په ترتيب سره د (۴)، (۱۲) او (۲.۵) کيلو واټه لمريزې سولري برېښنا سيستمونه نصب او فعال شول.

۸-د قضائي معاونيت او د مقام د تحريراتو د دفتر د پراختيا او ډيکوريشن چارې عملي شوې او د امنيتي قطعاتو د قوماندانۍ لپاره د دوو ودانيو د کانکريټ‌ريزۍ، د ذخيرې فعالولو او د سپټيک څاه د جوړولو پروژې تطبيق شوې.

۹-د ښاري ابتدائيه محاکمو د مسجد د صفې پراختيا، د موټرو د تمځای لپاره د سايه‌بان جوړول، د جنراتورونو کانکريټي صفې جوړول او د مامورينو د تګ راتګ د زغره‌والې دروازې ترميم ترسره شو؛ همدارنګه د سترې محکمې په مرکز کې د مجاهدينو د استوګنې د دوه‌منزله ودانۍ پروژه شاوخوا (۷) سلنه پرمختګ لري.

۱۰-د کاپيسا او هلمند ولايتونو د ښاري محاکمو د ملکيتونو نقشه او طرحه ترتيب شوه، د مجاهدينو د استوګنې لپاره (۵) باب کانکسونه انتقال شول، د هلمند او کاپيسا د ښاري محاکمو د ودانيزو پروژو لپاره د خاورې ازموينه ترسره او اړوندو ادارو ته يې اسناد ولېږل شول؛ همدارنګه، د ښکته ميوند ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د ځمکې د انتقال چارې تعقيب شوې، د ۱۴۰۴ مالي کال لپاره د ميدان وردګ او بغلان ولايتونو ښاري محاکمو او د زابل د سيوري او کندهار د ښکته ميوند ولسواليو د محاکمو تخنيکي اسناد ترتيب شول او د يادو محاکمو د ځمکو پروتوکولونه د کرنې وزارت د آراضۍ رياست سره شريک او لاسليک شول.

۱۱-په بګرامي ښارګوټي کې د سترې محکمې د مرکز د (۴۰) مستحقينو د اپارتمانونو د وېش په اړه ګډه ناسته ترسره شوه، چې پرېکړه وشوه د عالي مقام د حکم تطبيق به د سترې محکمې، د ماليې وزارت او د ملي انکشاف شرکت ترمنځ د درې‌اړخيزې تفاهم‌نامې له مخې ترسره کېږي؛ اړونده تفاهم‌نامه ترتيب او د منظورۍ لپاره د اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام ته ولېږل شوه. د سترې محکمې د ۱۴۰۵هـ ق مالي کال بودجه د مرکز او ولايتونو د محاکمو د اړتياوو پر بنسټ ترتيب، تائيد او ماليې وزارت ته راجع شوه.

## د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست

د سترې محکمې پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴۷هـ ق په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د مياشتنيو او ربعوار راپورونو له مخې، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو په شمول د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائيه محاکمو او ولسواليو ابتدائيه محاکمو راپورونه راټول او وروسته له توحيد، اړوندو ادارو ته د اجراآتو په موخه لېږل شوي. دغه راز د ښځو د ميراث او ملکيت د حقونو په اړه ځانګړي راپورونه هم په ټاکل شويو وختونو کې راټول، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو د اورېدو وزارت، د چارو اداري لوی رياست، د سترې محکمې د محترم عالي مقام دفتر او اداري معاونيت ته د بعدي اجراآتو په موخه لېږلي دي.

۲-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د ۳۴ ولايتونو د مرافعه محاکمو د يوې ربعې د حاضرۍ راپورونه (ميزان، عقرب او قوس) راټول او له توحيد وروسته يې اړوندو ادارو ته د بعدي اجراآتو په موخه لېږلي دي.

۳-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) او د رياست الوزراء عالي مقام د ۶۵ قطعه احکامو راپورونه راټول او له ترتيب او توحيد وروسته يې له اړوند مقاماتو سره د بعدي اجراآتو په موخه شريک کړي دي.

٤-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د قضائي

اجراآتو راپور، چې د ۱۴۰۴ کال له درېيمې ربعې سره سمون لري، د تميز اړوند د (۱۰) دېوانونو، مرافعه محاکمو، ښاري ابتدائيه او ولسواليو ابتدائيه محاكمو (۳۴ ولايتونه) او د حقوقو آمريتونو اجراآت په جلاجلا جدولونو کې ترتيب، د سترې محكمې اړوند معاونيتونو، رياستونو او د چارو اداري محترم لوی رياست ته يې د وروستيو اجراآتو په موخه لېږلي دي.

۵-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د اداري سلسلې او د اقتصاد وزارت غوښتنې ته په پام سره د سترې محكمې د پراختيايي پروژو د پرمختګ، خنډونو او ستونزو راپورونه د ۱۴۰۴ مالي کال د لومړۍ، دويمې او درېيمې ربعې لپاره ترتيب او وزارت ته لېږلي دي.

٦-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست له خوا د قضاتو لپاره د شلو (۲۰) استوګنيزو کورونو د جوړولو پروژه په اړوند ساحه کې په دوامداره توګه تر څارنې لاندې ده او د پرمختګ راپورونه يې په ټاکلي وخت اړوندو مقاماتو ته وړاندې کېږي. همدارنګه، د يادې پروژې د پخواني قرارداد له لغوه کېدو وروسته د حساب ورکولو بهير او د ساختماني موادو لابراتواري ازموينې او څارنه ترسره شوې ده.

۷-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د سترې محكمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست پورې اړوند د نيمه کاره دوه منزله مدرسې او سپټيک څاه د بيا رغونې پروژه او همدارنګه د کابل ښاري ابتدائيه محكمې لپاره د مسجد د سايه‌بان او جنراتوار د جوړولو پروژه په دوامداره توګه څارلې او د پرمختګ راپورونه يې پر وخت اړوندو مسؤولينو ته سپارل کېږي.

۸-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د سترې محكمې په انګړ کې د نظامي منسوبينو لپاره د دوه منزله ودانۍ او تهکوي د جوړولو پروژه تر څارنې لاندې نيولې ده او د کانکريټ او فولادي سيخونو تخنيکي ازموينې په لابراتوار کې ترسره شوې.

۹-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د کابل ولايت د مرافعه محکمې د مخزن لپاره د نوي ځای نقشه او برآورد ارزولی دی او د ساحې عملي څارنه يې ترسره کړې، چې د سترې محکمې د اداري معاون په ګډون يو پلاوي د يادې سيمې د بيا رغونې بهير له نږدې څارلی دی.

۱۰-په دويمه ربعه کې د پلان او پاليسۍ رياست د ابتدائيه محکمې د ترانسپورت آمريت لپاره د ورکشاپ د جوړولو پروژه په منظم او دوامداره ډول تر څارنې لاندې نيولې ده.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو له لوري د روزګان، جوزجان، سرپل، کندوز، نيمروز، تخار، بلخ، ننګرهار او دايکنډي ولايتونو د محاکمو کړنې څېړل شوې او راپورونه يې د راتلونکو هدايتونو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي دي.

۲-د قضائي تفتيش عمومي رياست، له اساسي دندو څخه، د سترې محکمې د عالي شورا د مصوباتو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملونو دوامداره نظارت دی، چې د مفتشينو له لوري د دويمې ربعې په جريان کې ياد نظارت ترسره شوی دی.

۳-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو لخوا ربعه‌وار او کلني راپورونه، چې د ولايتونو له محاکمو څخه راټول شوي وو، د عادي څېړنو پر مهال څېړل شوي، توپيرونه او علتونه يې تشخيص او اړوندو مسؤولينو ته يې په اړه لازمي لارښوونې شوې دي.

٤-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، د قضائي مفتشينو له لوري د عادي او اقتضائي کړنو پر مهال د هغو قضائي او اداري مسؤولينو په اړه، چې زيات تخلفات يې درلودل، راپورونه ترتيب او د راتلونکو هدايتونو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي دي.

۵-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، قضائي مفتشينو له خوا د محاکمو د عادي څېړنو پر مهال يو شمېر قضائي، اداري او خدماتي مسؤولينو ته لارښوونې شوې، تر

څو پر اسلامي امارت او محاكمو د خلكو باور لا زيات شي او مسؤولينو ته جدي او لازم هدايتونه شوي، چې د خلكو شكايتونو ته د اصولو سره سم او پر وخت رسېدنه وکړي.

٦-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست، ټولې (١٨١) اقتضايي عريضې ثبت کړې، چې له دې جملې (١٤٠) عريضې څېړل شوې او (٤١) نورې تر كار لاندې دي.

٧-په دويمه ربعه کې د قضائي تفتيش عمومي رياست له خوا د ولايتونو د محاكمو او محبسونو د عادي اجراآتو د څېړنې پر مهال د کندوز، تخار، غزني، جوزجان، سرپل او نيمروز ولايتونو محبسونه کتل شوي؛ د محبوسينو شكايتونه ثبت او ستونزې يې د وضاحت او حل په موخه له مرافعه محاكمو، ښاري محاكمو او نورو اړوندو مراجعو سره شريكې شوې دي.

## د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست

د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست د ١٤٤٧هـ ق كال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

١.په دويمه ربعه کې د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست كاري طرزالعمل ترتيب، تنظيم او د ټاكلي هيئت له تائيد وروسته له اړوند مرجع سره د تائيدۍ په موخه شريک شوی.

٢.په دويمه ربعه کې د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست د قراردادونو له ډلې د تيلو، تنظيفاتي توكو، مايع گاز او د ژمني البسي قراردادونه نهايي شوي، چې تر اوسه يې شاوخوا (٨٠) سلنه اړوند اجناس اكمال او په ډيپوگانو کې ځای پر ځای شوي دي.

٣.په دويمه ربعه کې د ياد رياست اړوند منسوبينو او مجاهدينو ته نږدې (١٠٣٦) قلمه بېلابېل لوژستيكي، تعميراتي، محروقاتي، البسوي، قرطاسيوي، مفروشاتي او نور اړين توكي اكمال او وېشل شوي دي.

٤.په دويمه ربعه کې د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند پرسونل لپاره په نظامي او مسلكي برخو کې د ظرفيت لوړولو پروگرامونه تنظيم شوي دي.

٥.په دويمه ربعه کې د خالد بن وليد (رضي‌الله عنه) د تعليمي مركز له قوماندانۍ څخه (٢٢٩) كسان فارغ شوي او هغوی ته تائيدليكونه وېشل شوي دي.

٦.په دويمه ربعه کې د ياد رياست د منسوبينو د نظامي او مسلكي وړتياوو د لا لوړولو په موخه د كورنيو چارو محترم وزارت اړوند د كابل اسلامي ملي پوليسو د تعليمي اکاډمۍ څلور تنه مجربو استادانو د همكارۍ په ډول په يوه تعليمي دوره کې گډون درلود، چې دا مهال د ياد مركز په قوماندانۍ کې د كورنيو چارو وزارت د تائيد شوي نصاب له مخې ديني، عقيدوي، اصلاحي، تعليمي او نظامي زده کړې او د قضاتو د ساتنې ځانگړی تائيد شوی نصاب د مجربو استادانو له لوري د معسكر مجاهدينو ته تدريس کېږي.

٧.په دويمه ربعه کې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند د مجاهدينو د ستونزو د حل په موخه له بېلابېلو ادارو سره گڼ شمېر استعلامونه او وړانديزونه تبادله شوي دي.

٨.په دويمه ربعه کې د اداري ستونزو د حل لپاره له اړوندو مسؤولينو سره منظمې اونيزې غونډې او د ياد رياست د چارو د پرمختگ، چټكتيا او ستونزو د مخنيوي په موخه په اونيز ډول له علماوو سره هم غونډې ترسره شوې دي.

## د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيكو او مطبوعاتو رياست

د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيكو او مطبوعاتو رياست د ١٤٤٧ هـ ق كال په دويمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

١. په دويمه ربعه کې د قضاء او ولس (٤) خپروني، ثبت، جوړې او د سترې محکمې د رسمي ادرسونو له لارې نشر شوې دي.

٢. په دويمه ربعه کې د قضاء مجلې (٢) گڼې ترتيب، ډيزاين، چاپ او په مركز او ولايتونو کې تكثير شوې دي.

٣. په دويمه ربعه کې د ميزان جريدې (٩) گڼې (له ١١٢ گڼې څخه ١٢٠مې گڼې) چاپ او په مركز او ولايتونو کې تكثير شوې دي.

٤. په دویمه ربعه کې د ملک د محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زیاتېدو په موخه (٤٥٠) خبرونه ترتیب او نشر شوي دي.

٥. په دویمه ربعه کې د هجري قمري میاشتې مطابق د محاکمو او نورو امارتي ادارو د اداري اجراآتو د ترتیب په موخه د رؤیت هلال هیئت (٣) خبرتیاوې ترتیب، ډیزاین او نشر شوې دي.

٦. په دویمه ربعه کې د محاکمو د قضائي فعالیتونو اړوند (١٢٠) انفوګرافیک جوړ، ډیزاین او د سترې محکمې د رسمي آدرسونو له لارې نشر شوي دي.

٧. په دویمه ربعه کې د ملک محاکمو د فعالیتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زیاتېدو په موخه «ستره محکمه په اونۍ کې» (٤٨) خپرونې په څلورو ژبو ثبت، جوړې او نشر شوې.

٨. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې اړوند مسؤولینو امارتي او شخصي موټرو ته (٣٨) قطعې کارتونه ترتیب او توزیع شوي دي.

٩. په دویمه ربعه کې د ١٤٤٧هـ ق کال د (٣) میاشتو کالیزه ترتیب، ډیزاین او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوې ده.

١٠. په دویمه ربعه کې د ورځنۍ نېټې (٩٠) ډیزاینونه جوړ او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوي دي.

١١. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات شیخ صاحب (٨) جلده کتاب (سراج الاحکام) ډیزاین او چاپ ته لېږل شوی دی.

١٢. په دویمه ربعه کې له رسنیو سره پوره همغږي شوې ده.

١٣. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د تېرو څلورو کلونو د لاسته راوړنو او فعالیتونو کتاب په پښتو او دري ژبه لیکل شوی دی.

١٤. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضات شیخ صاحب زاد المحافل في شرح شمائل (١٠٠٠) جلده کتاب چاپ شوی، (٣٢٦) جلده قوانین، د سترې محکمې (٣٠٨) جلده درسي نصاب او متحدالمآلونه، (٣٠٠٠) د کلینیک نسخې، (٢٥) جلده د امنیتي ګزمې کتاب، (٥٠) جلده د داخلېدو او وتلو ټکټونه او (٥٩) جلده قوانین د سترې محکمې د دفتر مقام ته، د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست ته، دعوت او ارشاد، دارالانشاء، تدقیق او مطالعاتو، د قضائي زده کړو، د قضاتو امنیتي قطعې، مالي او اداري چارو او د سترې محکمې نورو ادارو غوښتنې پوره کړې او (٦٣٤٤٧) پاڼې فوتو کاپي شوې دي.

١٥. په دویمه ربعه کې د (٧٠٩) مکتوبونو په اړه لازم اجراآت شوي دي.

١٧. په دویمه ربعه کې د سره صلیب هیئت سره د مفقودینو اړوند انلاین غونډې شوې ده.

١٨. په دویمه ربعه کې له اړوند ادارو سره د چارو د پر وخت ترسره کېدو په موخه (٢٠) ایمیلونو تبادله شوی دی.

١٩. د بهرنیو چارو وزارت او نورو اړوندو ادارو څخه د بیرون مرزي وثایقو او حقوقي (٤٠٧) قطعې مکتوبونو ترلاسه او د قانوني اجراآتو لپاره اړوندو مراجعو ته لېږل شوي.

٢٠. په دویمه ربعه کې (٩٠) جلده کتابونه چې مراجعینو د مطالعې په موخه له ځان سره وړي وو؛ بېرته قضاء کتابتون ته راوړل شوي او د کتابتون د مؤظف کس لخوا ترې تسلیمي اخیستل شوې.

٢١. په دویمه ربعه کې (٦٩٠) عنوانه کتابونو ثبت او اندراج شوی.

٢٢. په دویمه ربعه کې (٤٠) جلده کتابونه د امانت په ډول متقاضیانو ته ورکړل شوي دي.

٢٣. په دویمه ربعه کې د (٣٠) جلده کتابونو موده تمدید شوې ده.

٢٤ـ په دویمه ربعه کې د کتابونو د لا ښه نظم په موخه له (١) څخه تر (٨٢٥٦) پورې مسلسله شمېره د لیبلونو په توګه په هر کتاب لګول شوې ده.




«سراج الاحکام في معاملات الاسلام» کتاب په نوي بڼه او عصري ډیزاین چاپ شو!

«سراج الاحکام في معاملات الاسلام» کتاب په قضاء برخه کې د افغانستان د جیدو علماء کرامو مشهور او ګټور اثر دی؛ چې تألیف یې د مرحوم امیر عبدالرحمن خان د سلطنت پر مهال پیل او د مرحوم حبیب الله خان د سلطنت په دوره کې بشپړ شو.

په دغه کتاب کې د حنفي فقهې د معتمدو او معتبرو کتابونو له متونو، شروحو، فتاواوو او حاشیو څخه په پوره مهارت او دقت د مفتی به اقوالو خلاصه را اخیستل شوی.

«سراج الاحکام في معاملات الاسلام» کتاب له ډېر وخت راهیسې چاپ شوی نه و؛ ان تر دې چې پیدا کېدل یې ډېر ګران و؛ په دې سربېره ډېری علماء کرامو او قضاتو غوښتنه کوله چې دغه کتاب دې په نوې بڼه او عصري ډیزاین تألیف او چاپ شي، څکه له یوې خوا به دغه اثر چې د افغانستان له ویاړمنو آثارو څخه دی، را ژوندی شي، بلخوا دغه د معاملاتو په باب کې یو مهم کتاب دی، چې د محاکمو د فیصلو په حل کې به ډېر ګټور رول ولري او قضات به په آسانه ډول ترې استفاده وکړي؛ بناءً د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب تر مشرۍ لاندې علماوو د حوالو له تخریج او تحقیق سره د کتاب لیکل پیل کړل، چې الحمدلله اوس (۱۴۴۷ هـ ق) کال کې بشپړ او په ښه معیاري ډول په اتو (۸) جلدونو کې ډیزاین او چاپ شو.

د عمده ترلاسه کولو پته: د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱

واټساپ شمېره: ٦٦ ٧٧ ١٠٠ ٩٣٧١+

او پرچون یې ټولو ولایاتو کې له مشهورو کتاب پلورنځیو څخه ترلاسه کولای شئ.

# Qaza

## Sharia - Judicial - legal
## Three monthly Journal




@supremeCourt_af
publications.sc1443@gmail.com
Supreme Court of Afghanistan
supremecourt.gov.af
Supreme Courtستره محکمه
2302263_2300361
ستره محکمه

د بهرنیو عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست